بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** پیسې او کریډټ
**څانګه:** بانکداري
**تدوین کوونکی:** غلام حضرت میمنه اې
**ژباړن:** نور اللّه حقمل

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزابې د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- فرشته
- محمد احسان احسان

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول :** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** علی مومنی
**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال
**تیراژ:** ۳۰۰۰ ټوکه
**چاپ ځل:** لومړی
**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af
**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af
**کوډ ISBN:** ISBN 9789936300729

د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
دا عزت د هر افغان دی

کور د سولي کور د تورې
هر بچی يې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی
د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو
د ترکمنو د تاجکو

ور سره عرب، ګوجر دي
پاميريان، نورستانيان

براهوي دي، قزلباش دي
هم ايماق، هم پشه يان

دا هيواد به تل ځليږي
لکه لمر پر شنه آسمان

په سينه کې د آسيا به
لکه زړه وي جاويدان

نوم د حق مو دی رهبر
وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغېزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک


| څپرکي | سرليکونه | پاڼې |
|---|---|---|
| لومړی | د پيسو پيدايښت او د علماؤ له نظره د هغو تعريف | ۱ |
| دويم | د پيسو سستمونه او د پيسو د (خپرولو) اصل | ۱۱ |
| درېيم | د پيسو ويش او د هغو ارزښت | ۲۳ |
| څلورم | انفلاسيون او مالي بازارونه | ۳۷ |
| پنځم | کريدت او په اقتصاد کې د هغه رول | ۵۷ |
| سرچينې او اخيستنې | | ۶۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سريزه**

داچې دانسان دپيدايښت په اړه دځمکې په مخ سوچ وکړو زمونږ ذهن دوه اقتصادی مفهومونه چې د بشر له اړتيا اومادی اومعنوی غوښتنو څخه عبارت دي اوړي اوپه همدی حال کې دوهمه معقوله هغه توکې دی چې لومړنې اقتصادی مفهوم ته پری ځواب ويلی شو. داقتصاد دا دوه مفهومه چې عبارت د اړتياو اوهغه توکې چې دا اړتياوی په پوره کيږی دبشر له پيدايښت سره سم منځ ته راغلی دي داچې انسان داقتصادی، اجتماعی، سياسی اودژوند په بيلابيلو اړخونو کې ځانګړي لاس ته راوړنې لري. ددغو بريا و عمده علت داقتصادپه همدی دو مفهومونو کې نغښتي دی، ځکه انسان فعاليت ته اړ باسی اوفعاليت په خپله دتاريخ په اوږدو کې د انسان پياوړتيا اوبشپړتيا لامل شوی دی.

اوهمدا انسانې غوښتنې دبنې اوجوړښت له نظره بيلابيلې بڼې لری، اوبی سرحده اولايتناهې وي. اوله بلي خواه هغه توکې چې دغه غوښتنې په پوره کيږی دتاريخ په اوږدو کې بېلابېلې بڼې ځان ته غوره کړي دی په همدی حال کې اقتصادی معقولې انسان اړباسی چې توليد وکړی اومرام له توليد نه دتوکو اوامتعه د بڼې بدلون دي اوهمدا دبڼې بدليدل په پيسو کې ليدلې کيږی، ياني پيسې دتاريخ په بېلابېلو پړاونو کې په ځانګړي بڼه منځته راغلي دي. اوکه دبشر له لومړيې پيدايښت څخه مطالعه وکړو نو له فلزاتو څخه تر بانکنوټ پوري له ځان سره لري اوکه چيرې مونږ دبانکنوټونو پيدايښت دتاريخ په اوږدو کې وځيړو بېلابېلې بڼې لري چې دپيسو ځانګړنې اوصفات لري چې عبارت دي له چک، ارزښت لرونکی سند اوروغتيا سند دي چې دغه دنقد پيسو ځانګړنې نه لري. خود پور اود کريډيټ په بڼه وي.

مونږ دلته داهم مطالعه کوو چې دپيسو په نه شتون کې، ولې شته ارزښت يې دبشر په وړاندې، اودغه اجتماعې موجود څنګه خپلې اړتياوو ته ځواب ويلې دي. اوپه دي عنوان چې دتوکو ورکړه اويا درامنځته شوی ارزښت دانسان په وړاندی اويا دجنس په مقابل کې اوبل عنوان کريډيټ ټاکلې شو. اوپه دی توانيږو چې دپيسو اوکريډيټ تر عنوان لاندې مطالعه کړو.

نووويل شو چې دسلو، زرو اوميليون انسانې غوښتنو په وړاندې يوازې يوځيز شتون لري. هغه پيسي دي اواړينه ده چې دپيدايښت،جوړښت ، ماهيت اومفهوم په اړه کافې معلومات ولرو.

په درناوی

غلام حضرت ميمنه ايې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی څپرکی

## د پیسو پیدایښت او د علماؤله نظره د هغوی تعریف

**ټولیزه موخه:**
د پیسو تعریف او ماهیت

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي تر لوستلو وروسته به زده کوونکي وکولی شي:
- د پیسو رشد او تکامل توضیح کړي
- د بشر د اړتیاؤ په هکله د هغوی اهمیت درک کړي.
- د پیسو د تاریخچې په هکله معلومات تر لاسه کړي
- د پیسو خاصیتونه او مشخصات توضیح کړای شي.

مخکي تر دې چې د پیسو د پیدایښت په هکله اجتماعې ، اقتصادي او سیاسي پدیدې و څیړل شي، غوره ده چې په لومړی سر کي د پیسو د ماهیت او اهمیت په هکله معلومات تر لاسه کړو چې د هغوی داخلي او بهرني جوړښت ښایندګي یا استازیتوب کوي، نو په دې اساس ویلای شو چې د پیسو پیدایښت د بشر له پیدایښت سره یو ځای منځته راغلی دی او د بشر د ژوند په اوږدو کي د هغه د لاسته راوړنو او ایجادونو له کبله کولای شو ددغې اقتصادي پدېدې تاریخ تثبیت او معلوم کړو.

که څه هم په دغه خاورینه کره کي د بشر د هستوګنې تاریخ ملیاردونه کلونه له ځانه سره ولري خو د تر لاسه شویو لاسوندونو او مدارکو په بنا ویلای شو چې چې لرغون پیژاندو د حضرت عیسی له میلاد نه نژدې ۲۷۰۰۰ کاله مخکي د بابل په ښار کي د دجلې او فرات د سیندونو تر منځ چې د اوسني بغداد له ښار څخه یو سلو شل کیلومتره لرې شتون لری، د پیسو د ودې او تروج اثار موندلي دي . البته دغه اثار د هغه ځای په غرونو کي له هغو مغازو ، انساني کوپړیو او داسې نورو هغو تصاویرو څخه عبارت دې چې په دغه سیمه کي د انسانانو هستوګنه تثبتوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ځای کې ممکن پوښتنه مطرح شي چې دغو انسانانو خپلې اړتیاوې دکوم څه په واسطه رفع کولې، نو ویل کیږی چې په دې وخت کې اقتصاد پیژندنې ابتدایې بڼه درلوده، له همدې کبله د هغوی د اړتیاؤ رفع کول د ورو او بطي بهیر شودنه کوي. نو غوره ده چې له پیل یا ابتدایې پړاو نه د بشر د اړتیاؤ وضع تر مطالعې لاندې ونیسو.

پــه لومړی سر کې په انفرادی توګه او له هغه وروســته په ګروپي یــا ډله یز ډول په دواړو پړاونو کې د بشر د اړتیاؤ رفع کیدل د بشر د خوړو له موضوع څخه عبارت دي. په دې معنا چې په لومړۍ پړاو کې انســانانو له خپل چاپیریال او شــاوخوا څخه غذا تر لاسه کوله ، خو کله چې د دوی په شا وخوا کې د غذایې موادو لاسته راوړل ستونزمن شول، نو مجبور شول چې له یوه ځای څخه بل ځای ته مهاجرت وکړي .

د ویرې او خوف په څیر یو لړ احساســاتو هم هغوی دې ته اړیســتل تر څو کالونې یا ډله یــز حرکت وکړي او ژوند غوره کړي همدغه لامل دی چې د کیفیت او کمیت له مخې له بېلابېلو خوراکونو سره مخ کیدل. له دې څخه وروسته هغوی د هغو وسایلو په هکله فکر کول شروع کړل چې له دوی سره یې د خوړو په تر لاســه کولو کې مرســته کولای شوای، همدا شان په دې مرحله کې د انســانانو په منځ کې د زورور او کمزوري انســان فکر او پرتله منځته راغله او په ورته حال کی د ترس یا ویرې ایجاد دی چې انســانان یې اړیســتل تر څو نه یوازې د خپلو غذایې اړتیاؤ په هکله فکر وکړي بلکې د خپل ځان د ژغورنې او سرپنا په هکله هم فکر وکړي تر څو د داړونکو حیواناتو له شر څخه په امن کې پاتې شي، نو په دې توګه انســانان فکر کولو ته اړ شــول تر څو د خپلــو بېلابېلــو اړتیاؤ په هکله فکر وکړي ، همدغه لاملونه دې چې د بشر د ودې او اړتیاؤ ســبب ګرځیدلې دي او د لومړی ځل لپاره یې د خپلو اړتیاؤ رشــد او تکامل او د هغوی د لاســته راوړنې فکر ځانته جلب کړ او د خپلو اړتیاؤ د لرې کولو د وسایلو په فکر کې شول.

دا چې په هغه زمانه کې نه خو پیسو شتون درلود او نه د پیسو په اړه د کومو معلوماتو څرک لګیده، خو په دې وخت کې د لومړی ځل لپاره د پرتلې یا مقایسې کلمه منځته راغله چې د همدې کلمې له مخې یې وکړای شــول د خپلو لاســته راوړنو د ارزښت په هکله فکر وکړي. همدا شان په ورته وخت کې انسانې اړتیاؤ هغوی دې ته اړ کړل تر څو د تبادلې له روش څخه استفاده وکړي.

د همدغــو اړتیاؤ د رفع کولو له کبله انســانان دوهم پــړاو ته ننوتل چې د جنس په جنس تبادله یا Barter ســســتم په کې رامنځته شــو چې دغه ډول اقتصاد د د مولده ځواکونو له مخې د طبعې اقتصاد په نامه یادیږي. د جنس په جنس تبادله رواج شــوه او دانســان د اړتیاؤ د زیاتوالې له مخې د جنس د تبادلې سستم له یو اړخیز ډول څخه دوه اړخیز ډول ته بدلون وموند یانی یوه جنس د څو جنسونو په مقابل کې ځای ونیو او د څو جنسونو په مقابل کې یې د تبادلې وړتیا تر لاسه کړه چې د تبادلې دغه ډول د تبادلې د څو اړخیز سیستم په نامه یادیږي.

د تبادلې دغه ســســتم هم ملیاردونه کاله زمانې واټن له ځانه سره لرې او وروســته یې دهغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســتونزو له مخي چې په دې ســـتم کي منځته را تلې، وکړای شول چې خپل ځای جنس په جنس سیســـتم ته پريږدي چې په لومړی سر کي د دغو ســـتونزو ذکر کول غوره بولو چې په لاندي ډول دي:

۱. کوم شیان چې تبادله کیدل، د ویش وړتیا یې نه درلوده

۲. د اړتیا وړ توکیو لیږد او انتقال ستونزمن ؤ

۳. د ترانسپورت او حمل او نقل د وسایلو نشتوالی

۴. جوي یا اقلیمی حالات

۵. د ځینی شیانو په هکله د میل یا رجحان نشتوالی

همدغه ذکر شوي پنځه عناصر وو چې انسانان یې دې ته وادار کړل تر څو د ارزښت په هکله فکر وکړي او د غذا د لاس ته راوړلو په موخه له یوه ځای څخه بل ځای ته وکوچیږي او د همدغو مهارجرتونو له کبله انسانان له نجیبه فلزاتو سره اشنا شول، یاني (یعنی) د نجیبه فلزاتو له شتون نه وړاندي انسانانو د تبادلې په سیستم کي له هغه ارزښت نه استفاده کوله چې کمیاب او نادر وو او په سختۍ سره تر لاسه کیدل لکه د فیل غاښونه ، د زمري پینجې او داسي نور.

د انساني اړتیاؤ د زیاتوالي په پایله کي انسانانو په دوهمه مرحله کي له فلزاتو څخه د تبادلې د عامل په توګه استفاده کول پیل کړل چې له فلزاتو څخه د تبادلې د عامل په حیث د استفاده کولو په برخه کی هم د هغوی ندرت مطرح وو.

د تبادلوي سیســـتم ســـتونزو او په فلزاتو کي د ویشـــلو او نه خرابیدلو په ځیر نورو نغښـــتل شویو ارزښتونو شتون ته په کتني سره په محلاتو کي د اړتیاؤ د لری کولو په موخه د تبادلې دغه سســـتم د یوه ســـهولت او اســـانتیا په توګه منځته راغی، او په دې توګه نجیبه فلزاتو د تبادلې ارزښـــت تر لاســـه کړ او په دې توګه انسانانو ورو، ورو د خپلو اړتیاؤ درفع کولو په مقصد له پیسو څخه استفاده کول زده کړل.

**د پورتنیو معلوماتو په اساس کولای شو پیسې په لاندي ډول تعریف کړو:**

کوم شی چې د انسان اړتیاوي پوره کولای شي له پیسو څخه عبارت دی، په بله وینا، کوم شی چې د اړتیاؤ د رفع کولو په برخه کي د ازرښت د معیار په توګه منل شوی وي او د ارزښت ساتني وړتیا ولري له پیسو څخه عبارت دی. همدا شان د افغاني تعریف له مخي ویلای شو کوم شی چې د پیسو دندې تر سره کولای شی له پیسو څخه عبارت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تاریخ په لړ کې د پیسو وده او بشپړتیاېې بهیر:**

پـــه دې ځای کی بهتره ده په لومړی سر کې د تاریخ پړاو تر مطالعې او څیړنې لاندې ونیســـو. کولای شو د مولده ځواکونو یا تولید د وسایلو له مخې پیسې توپیر کړو یانی(یعنی) که چیرته د انســـانانو اقتصادي وده د تاریخې مراحلو له مخې وڅیړو، د پنځو تاریخې پړاونو لرونکې ده چې لومړی پړاو یې د ودې او وحشت او یا لومړنې کمون له مرحلې څخه جوړ شوې چې د وحشت او لومړي پړاوکې انســـانانو د پیســـو په برخه کې داسې فکر کاوه چې ګواکې د تبادلې سستم مستقر دی او د اجناسو د تبادلې په برخه کې له هغه څه نه ګټه واخیستل شي چې نادر او کم یافته وي او تر لاســـه کیدل یې نسبتاً ســـتونزمن وي او د هر چا له لوري یې د لاسته راوړنې هڅو د کمیابې یا ندرت ارزښت ور بخشلی وي چې د فیل غاښونه او د زمري پنجې یې ځینې بیلګې دي چې د پیسو په توګه تري ګټه اخیستل کیدله.

دا چې د ورته توکیو تر لاسه کول یو ستونزمن عمل ده او د اصالت په صورت کې یې د انسان د لـــه منځـــه تلو یا له منځه تللو ویرې شـــتون درلود نو په پایله کی له فلزاتو څخه ګټه اخیســـتل پیل شـــول او په ورته وخت کې د حاکم او محکوم د طبقې د بروز یا منځته راتلو ســـبب شـــول او د طبقاتو تر منځ پولې او سرحدونه جوړ شـــول او له یوه ځای څخه بل ځای ته د موادو لیږد او نســـبې تبادلوي تجارت اوج ته ورســـېدو چې د فیل د غاښونو او زمري د پنجو ځای سرو او سپینو زرو ونیو او له تاریخې نقطه نظره دوهم پړاو یانې د بردګې مرحله پیل شـــوه او تر څوارلســـمې او پنځلســـمې پیړۍ پورې یې دوام وکړ. د دولت اداري سیتستم را منځته شو ، پاچایان هم د سرو او ســـپینو د را ټولولو په هڅو کې شـــول تر څو له هغوی څخه سکې جوړې کړي او او د اجناسو د رانیولو په برخه کې د پیسو په توګه تري ګټه واخلی .

د تاریخې پړاونو له مخې دغلامانو پاڅون د خاوندانو په وړاندې پنځلسمې پیړۍ په وروستیو کې پیل او او په پایله کې د غلامی ســـتم د ماتې لامل شـــول چې په ځای یې دریم تاریخې پړاو چې د فیودالیزم له پړاو څخه عبارت دی چې تر شپاړسمې او اولسمې پیړۍ ، حتی په هند او چین او اسیا په براعظمونو کې د اتلسمې پیړۍ تر اخري پورو دوام وکړ.

په دې پیړۍ کې د پیسو د پیدا کیدلو په برخه کې پاچاهانو د سرو او سپینو زرو له سکو څخه کار اخیســـته. د اوسپنیزو پیسو سیستم چې بیلابیل ډولونه یې مطالعه کولای شو له هغه وروسته به یې د ډولونو په برخه کې معلوامات تر لاسه شي چې د اوسپنیزو پیسو دغه سستم په نړۍ کې تر نولســـمې پیړۍ پورې دوام درلود. د دغه سیســـتم محور له سرو او سپینو زرو څخه جوړ شوي دی، دغه دوه فلزات تر نولســـمی پیړۍ پورې بدلون مومې. د سرو او سپینو زرو ګډ مشخصات په لاندې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. دواړه یې نادر یا لېږ پیداکېدونکي دي

۲. دواړه یې د زنګ وهلو خاصیت نلري

۳. دواړه یې په کوچنیو پاڼو او ټوټو باندي د وزن او اررزښت له بایللو پرته ویشل کیدی شي

۴. دواړه یې په اسانۍ سره لیږدول کیدی شی

۵. دواړه یې د زینت او ښکلا لپاره کارول کیدی شی

۶. دواړه فلزات د ذاتي ارزښت لرونکي دی

نن ورځ هم د پورته خصوصیاتو لرونکي پیسې د غوره خاصیت لرونکو پیسو په ډول پیژندل کیږي.

**د پیسو خصوصیات :** پیسې هم د نور ټولو اقتصادي پدېدو په څیر یوه مهمه اقتصادې پدېده ده چې د نورو اقتصادي واقعاتو او مفاهمو په څیر د اقتصاد په داخلې او خارجې ساحاتو کي د خپل اهمیت لرونکي دي. د دې لپاره چې دپیسو د ماهیت او مفهوم په هکله لاښه معلومات تر لاسه کړو، غوره ده چې د پیسو له خصوصیاتو سره پیژندګلوي پیدا کړو. دا چې دغې موخې ته ورسیږو، اړ یو چې د پیسو داخلي او بهرني جوړښت درک کړو

د پیسو د خصوصیاتو له درک کولو سره موږ د پیسو دندو ته هم نژدې کیږو ، د پیسو د دندو پیژندل له موږ سره مرسته کوي تر څو په ټولنه کي د هغوی له اقتصادي تاثیراتو سره په تړاو اقتصادي او غیر اقتصادي متاع تشخیص کړای شو او د هیواد اقتصادي وضع په غوره توګه درک او تحلیل کړای شو.

پیسې اوه ډوله خاصیتونه لري چې له هر یوه څخه یې په ځانګړي توګه یادونه کیږي خو په دې ځای کي غوره ده لومړي هغه ډلبندي کړو او له هغه وروستهورباندي بحث وکړو.

۱. د تبادلې خاصیت

۲. د شیانو د ارزښت د معیار خاصیت

۳. په پراخه توګه د منلو وړتیا

۴. د ویشلو وړتیا

۵. په اسانه توګه د لیږد او انتقال وړتیا

۶. د تداوم خاصیت یا د اوږدې مودې لپاره د ساتلو خاصیت

۷. د ارزښت د ساتلو خاصیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱. تبادله:** که چیرته د خپل شتون له نقطه نظره وڅیړو، لیدل کیږی چې تبادله خورا اوږده سابقه لري ځکه تبادلې د طبیعې اقتصاد په سستم کې هم شتون درلودلای دی خو وروسته یې د مولده ځواکونو د ودې له کبله په بیلابیلو ډولونو وده کړي، تر څو د پخوالي مرحلې ته ورسیږي. خو په دې ځای کې پوښتنه مطرح کیږی چې د کومو عواملو له مخې د جنس په مورد کې تبادله منځته راغله؟ د پوښتني د ځواب کولو لپاره غوره ده چې د اقتصادي او غیر اقتصادي امتعو په هکله د تبادلې د اساسې علت په لټه کې شو چې کولای شو په دې اړه دوه مطلبونه مطالعه کړو.

لومړی دا چې وده د بشر له اړتیاؤ څخه دی او د محدودیتونو رفع کول یې له وسایلویا اسبابو څخه شمیرل کیږي ، په دوهم قدم کې امتعه یا شیان اقتصادي موثریت او معقولیت لري چې د همدغه اقتصادي موثریت او معقولیت په پایله کې ارزښت منځته راوړل کیږي چې ارزښت پخپله جنس ته د تبادلې ځواک ور بښي او لیدلي مو دي چې تبادله د تاریخ په اوږدو کې د اقتصادي امتعې په منځ کې موجوده وه او یو جنس په بل جنس باندي تبادله شویدی.

د اقتصادي امتعې تبادله داسي تعریف کوو ، هر شی چې د انسان اړتیا رفع کولای شي او په ورته حالت کي د تبادلې وړتیا لري له امتعې څخه عبارت دی ، نوپه دې اساس که چیرته په جنس کي د تبادلې پړاو مطالعه کړو، د بېلابېلو ډولونو لرونکي دي او په پای کي لیدل کیږي چې د تبادلې په برخه کي د اجناسو ځای پیسو نیولی دی یانې پیسو پخپله د تبادلې حیثیت ترلاسه کړي دي.

نو د تبادلې له نقطه نظره پیسې داسي تعریف کوو چې پیسې له هغو شیانو څخه عبارت دی چې د تبادلې د ځواک لرونکي وي .

پیسې هغه امتعه ده چې د توکو مشترک خاصیتونه په ځان کي را نغاړي یانې له یوه پلوه توکې ورباندي اخستل کیدی شي او له بله پلوه په توکو باندي پیسې تر لاسه کیدی شي. پیسې یو لیکل شوی سند دی چې د پیسو د تبادلوي ارزشت نماینده ګي کوي

**لکه:** «ددی سند لرونکی ته وعده ورکری چه دغوښتنی په وخت کی. . . . . . . . . . . ورکړی» بناءً دې پایلې ته رسیږو چې پیسې د تبادلې خاصیت لري.

**۲ .پیسې د توکو د ارزښت معیار دي :** د پیسو دوهم خاصیت د پیسو له دندو سره تړاو لري چې دوهم مهم خاصیت ګڼل کیږي. په پیسو کي دغه خاصیت داسي څرګندولای شو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسو لومړنی خاصیت تبادله ده نو له هغه مخکي پکار دی چې په پیسو کي یو معیار یا قیاسي مفهوم نغښتی وي چې دغه قیاس او معیار پخپله د پیسو په واسطه ټاکل کیږي او د قیمت په بڼه انعکاس مومي. نو په دې توګه پوهیږو چې په ټولو شیانو او امتعه کي نغښتل شوي ارزښتونه د پیسو په واسطه ټاکل کیږي. څنګه چې په پیسو کي هم ارزښت اخیستل شوي دي ارزښت په خپله د انسان له کار څخه عبارت دی نو په پیسو کي هم کار د تر سره کولو وړتیا شته چې د پیسو دنشر په صورت کی هغه ته اشاره کیږي.

له پورتنیو توضیحاتو څخه دا پایله جوتیږي چې د ټولو اقتصادي او غیر اقتصادي شیانو او امتعې ارزښت د پیسو په واسطه تعین کیدی شي او د ارزښت د ټاکلو لپاره یوازنی معیار ګڼل کیږی.

**۳. په پراخه کچه د پیسو د منل کیدلو خاصیت:** پیسې د یوې ټولني د اړتیاؤ د لري کیدلو په موخه نشر کیږي چې په واسطه یې د ټولني وګړي کولای شي خپلې اړتیاوي پوره کاندي، نو په دې توګه اړینه ده چې پیسې یو اعتبارې ارزښت ولري . له اعتباري ارزښت څخه زموږ موخه دا ده چې په یوه ټاکلي جغرافیوي قلمرو کی د چلند وړتیا ولري او د هغې سیمي ټول کسان یې د پیسو په توګه و پیژني . دا خاصیت هغه مهال تحقق مومي چې دولت د یوه ښه حاکمیت لرونکی وي او هغه مهال دې خاصیت ته رسیږو چې پیسې د اسمي ارزښت لرونکي وي او دغه مطلب د یوه هیواد د تادیاتو له بیلانس سره اړیکه لري. په هره اندازه چې د پیسو اسمي یا خارجې ارزښت زیات وي په هماغه اندازه یې په ټولنه کي د حاکمیت ساحه پراخه وي او په هره اندازه چې د پیسو خارجې ارزښت کم وي په هماغه تناسب یې په ټولنه کي د حاکمیت ساحه کمزوري وي چې په دې حالت ښې پیسې د بدو یا بیکاره پیسو په واسطه له منځه وړل کیږي چې د بانکي سیاستونو په واسطه یې مخه نیول کیدی شي تر څو زموږ ښې پیسې له منځه ولاړي نشي.

**۴. د پیسو د ویشل کېدلو یا میده کېدلو خاصیت :** په لویو او کوچنیو ارزښتونو باندي د ارزښتونود نه ویشل کیدلو خاصیت د تبادلې د طبیعي سیستم په برخه کي لویې ستونزي ایجادولې شي چې په پایله کي یې طبیعې اقتصاد په پولي اقتصاد باندي بدل شو او د جنس په ځای پیسې منځته راغلې چې له کبله یې کولای شو کوچني او ستر ارزښتونه و پیرو، ځکه پیسې په لویو او کوچنیو ارزښتونو باندي د ویشل کیدلو خاصیت لري یانی(یعني) په میده پیسو باندي ویشل کیدی شي چې د خپلو اړتیاؤ په صورت کي تري ګټه واخلو.

**۵. د لیږ دیا انتقال د خاصیت لرل:** لکه چې ولیدل شول په طبیعې اقتصاد کي له یوه ځای څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل ځای ته د ارزښــتونو لیږدول یا انتقال د دغه اقتصاد لویه ســتونزه جوړوله او جوي وضعې خو دغه ستونزي لا پسي پیچلی کولي ، نو په دې اساس انسان د یوه ارزښت د منځته راوړلو په فکر کي شو تر څو د هغه د لیږد یا انتقال په برخه کي له ستونزو څخه خلاصون وموميي چې په دې توګه په لومړی سر کي پیســې د تبادلې او ارزښــت د معیار په صفت ومنلې شوې او له هغه وروسته د هغوی د ارزښــت ســاتلو موضوع مطرح شوه، دا چې سره او سپین زر له یوه لاس څخه بل لاس ته او یا د راکړي ورکړي له کبله توږل کیږي او خپل ارزښــت له لاســه ورکوي نو انسان دې ته اړ شو تر څو ددغې ســتونزي څخه دمخنیوی په موخه دراکړې ورکړې له کم ځای ناســتې وســیلې څخه اســتفاده وکړي له دغو قیمتي فلزاتو څخه د ګټې په ځای ګټه اخیســتل پیل له کوم ځای ناستي کاغذ څخه کړي او د هغوی د ارزښت ساتلو هڅو ته دوام ورکړي.

**۶. د پیسو د دوام خاصیت:** د پیسو له تداوم څخه زموږ موخه د پیسو هغه خاصیت دی چې په لنډ وخت کي له منځه ولاړي نشي او تر اوږدې مودې پوري په چلند کي پاتي شي او د انسانانو د اړتیاؤ د لري کولو وړتیا ولري. د پورتني خاصیت د روښانه کولو په موخه غوره ده چې په اقتصاد او ټولنه کي د پیســو د ارزښــت د لوړوالي اوښکته والي په اړه بحث وکړو. څکه کله چې د خارجې اســعارو په مقابل کي دپیســو ارزښت لوړ وي نو په ګړندۍ توګه له منځه نشي تللای او تر اوږدې مودې پوري دوام کوي . په دې ځای کي زموږ مطلب دا دی چې که چیرته زموږ صادرات دوارداتو پــه پرتله زیات وي ، په دې صورت کي زیات خارجې اســعار هیواد تــه داخلیږی چې د ټولني د اقتصادي رشــد او ودې لامل ګرځي ا و د هیواد په داخل کي د تولیداتو ســطحه لوړیږی. په دې حال کي د توکو او امتعې په برخه کی اسمي ارزښت په ټیټه سطحه کي ټاکل کیږي یانۍ(یعنی) پــه لیږو پیســو زیاتې اړتیاوي پوره کیدلای شي، بناءً پیسي ژر لــه منځه نه ځي او د اوږدې مودې لپاره په چلند کي پاتي کیږي . په ورته شرایطو کي د پیســو دغه خاصیت د پیســو له نشر سره هم تړاو لري په دې معنا کله چې د نشر په حال کی له غوره کاغذ څخه کار واخیستل شي نو پیسې د ډیر وخت لپاره دوام کوي .

**۷. د پیســو د ارزښت ساتلو خاصیت:** دغه خاصیت د پیسو له مهمو خاصیتونو څخه ګڼل کیږي، دغه خاصیت د پیسو د تبادلې خاصیت ته د څلور نورو خاصیتونو د ور بښلو وړتیا ورکوي چې د پیسو د دندو د بحث په صورت کي به ورته اشاره وشي.

د پورتني خاصیت د شنني او تحلیل په موخه غوره ده چې د پیسو د ارزښت په برخه کي هم مطالعه وکړو تر څو د پیســو د ارزښــت ساتلو خاصیت په ښــه توګه درک کړایشو. پیسې د اسمي او حقیقې ارزښــت تر څنګ د یو لړ نورو خواصو لرونکي هم دي ا و دپیســو حقیقي ارزښــت د دې څرګندونه کوي چې د توکو او امتعې په مقابل کی ځای نیسي چې په کومه اندازه د پیسو د جذب قوه غښــتلي ده چې کولای شو د حقیقې عاید تر عنوان لاندي يې مطالعه کړو. کله چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیاتو پیســو باندي لیږ توکی  واخســتلای شو، په دې حال کې ویل کیږي چې زموږ د پیسو حقیقې ارزښــت ټیټ یا ښــکته دی. نو په دی اساس نتیجه تر لاسه کوو چې پخپله د پیسو دجذب قوه  د دې څرګندونه کوي  چې د جنس تر څنګ   په ورته حال کې د قرضو او قیمتي اسنادو  په مقابل کې  د پرداخت وړ دي او  ویلای شو هر شی چې د پرداخت یا تادیې وړتیا لري، د حفظ او ساتني د خاصیت لرونکي دي ځکه تادیه او پرداخت هم د ارزښت په مقابل کې منځته راځي.

**دلومړي څپرکي دمطالبولنډیز:**

د دې څپرکی لنډیز په دې کې نغښتی چې  د تمدن په لمړیو کې بشر خپلې اړتیاوي څنګه رفع کولې شي او په دې برخه کې یې له  کومې  وسیلې څخه استفاده کوله،  د تبادلې له مخې د هغوی لپاره په کوم تعریف قایل شــول  او توکی  او امتعه یې د ارزښــت له مخې څنګه له یو بل څخه تفکیک کوله،  چې په دې برخه کې مو له تاریخې پړاو څخه یادونه وکړه او پیســو د پیدایښــت، مفهوم او ماهیت په هکله مو کافې معلومات تر لاسه کړل.

د پیســو د منځته راتلو په برخه کی باید وویل شي چې د پیســو خاصیتونه خورا مهم او اساسي رول او نقش لري  چې شــمیر یې اوو خاصیتونو ته رســیږي چې له دغې لړۍ څخه یو یې هم د تبادلې وړتیا ده چې له کبله یې انسان خپلو اړتیاو ته ځواب ویلای شي ، همدا شان   که  د روشونو له مخې فکر وشي غوره ده چې یو معیار هم شــتون ولري او په مختلفو ځایونو کې یی اســتعمال کړای شو. پکار دی چې پیسې  له یوه ځانګړي اعتباري خاصیت څخه برخمني وي او دغه ارزښت وکړای شی په مختلفو ځایونو کې خپل موقف وساتلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لومړی څپرکي پوښتنې :**

۱ .پیسې تعریف کړئ؟

۲ .د پیسو تاریخچه په لنډه توګه تشریح کړئ؟

۳ .د تاریخ له کوم پړاو څخه را پدېخوا د پیسو له اصطلاح سره اشنا شوي یو؟

۴ .پیسې د کومو خاصیتونو لرونکي دي؟

۵ .د پیسو له خواصو څخه موخه څه شی ده؟

۶ .د پیسو کوم خاصیت مورږ ته د پیسو دندي تشریح کوي نوم یې واخلی؟

۷ .د پیسو له ګډو خصوصیاتو څخه موخه څه شی ده؟

۸ .د تبادلې مشکلات له کومو څیزونو څخه عبارت دي؟

۹ .کوم عوامل وه چې انسان ته یې د فلزاتو د پیژندګلوي وړتیا ورکړه؟

۱۰. هغه سند چې پیسو ته یې د تبادلې وړتیا ور بښلي ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دویم څپرکی

# د پیسو سیستمونه او د پیسو د (خپرولو) اصل

**ټولیزه موخه:**
د دې څپرکي عمومی موخه د پیسو دسیستم له پیژندلو څخه عبارت دی

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کي له محصیلینو نه تمه کیږي چې:

۱- د پولي سیستم په برخه کي معلومات ولري

۲- په بېلابېلو هیوادونو کي د پیسو د سیستم په اړه معلومات تر لاسه کړي.

۳- د پیسو دندې و پیژني.

### د پیسو سیستمونه او د پیسو د (خپرولو) اصل

د فلزاتو له کشف او د هغوی د خصوصیاتو له درک سره نه یوازي دا چې تکنالوژی ته د بشر لاس رسی شونی شو، بلکي د مبادلې یوه غوره سیستم ته یې هم د لاسرسی زمینه برابره کړه. په لومړی سر کي د اوسپنې، برونزو، سرو او سپینو زرو په څیر فلزات په زیاته اندازه استعمالیدل خو د هغوی د غوره خواصو د غښتلی موقف له مخې سره او سپین زر تر ډیره ځایه د خلکو په لاس کی پاتي کیدل.

د پخواني تمدن پیسو زیاتره د وسایلو بڼه درلو ده چې کولای یې شوای کار تري واخیستل شی لکه چاقو، تبر، غوری، ګلدان ، د ماهې نیولو چنګک ، سیم او داسي نور. دغه ټول وسایل له اوسپني، برونزو، او مسو څخه جوړ شوي وو. له دغو اوسپنیزو توکیو څخه د ګټې اخستلو په موخه د هغوی اصلي شکل پولی ارزشت نه درلود. په دې وخت کي پیسې یوازي هغوتوکو ته ویل کیدې چې د استعمال او ګټې اخستلو وړتیا یې درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو لړ شواهد شته چې په بنسټ یې سره زر لومړنې فلز ګڼل کیږي چې د بشر له خوا تر استعمال لاندي نیول شوی دی. د مثال په توګه: ویل کیږي چې د مسیح تر میلاد ۵۰۰۰ کاله وړاندي له سرو زرو څخه د ګاڼو او سینګار په دود استفاده کیدله .په ورته توګه سپین زر هم د سرو زرو په څیر له ډیرې پخوا زمانې راهسي د خلکو د ګټې وړ ګرځیدلي دي.

په پخوانې مصر کی د اوږدې مودې لپاره داسی تصور کیده چې ګواکي سپین زر له سرو زرو څخه زیات ارزښت لري خو له میلاد څخه ۱۰۰۰ کاله پخوا سپینو زرو د خپل زیاتوالي او پریمانۍ له کبله په مصر کي خپل دغه موقف له لاسه ورکړ . د هسپانیا له معادنو څخه د نقرې زیات استخراج و زیاته عرضه او د مصر بازارونو ته د هغې زیات ورود هغه لاملونو وو چې د سپینو زرو د ارزښت د کموالي دلیل ګڼل کیږي.
ویل کیږي چې لومړنی جوړه شوي سکه ممکن له میلاد څخه ۷۰۰ کاله وړاندي منځته راغلي وي چې د سرو او سپینو زرو مرکبه سکه وه.

د پیسو مورخین عقیده لري چې کاغذې پیسې د لومړی ځل لپاره په اتلسمه پیړۍ کي د پیسو د لیږد په ستونزه باندي د غلبې موندلو په موخه ترویج شوي . له اتمې څخه تر اولسمي پیړۍ پوري له لنډو مودې (وخت) پرته کاغذي پیسې د چین د امپراطور او مغلي امپراطوري په واسطه د چنګیز له کوشاپې هیواد نه وروسته په زیاته اندازه انکشاف وموند. د یادې شوي دورې په اوایلو کي په اروپا کي د پرداخت لپاره له یو ډول چرمي پیسو څخه استفاده کیدله، نو په دې اساس ویلای شو چې د پیسو سیستم د بیلابیلو ډولونو لرونکی دی چې هر یو یې په جلا جلا توګه په خپل وخت تشریح کیږي تر څو په ډاګه شي چې له فلز څخه پیل بیا تر کاغذه پوري د پیسو رشد او تکامل کوم پړاونه طی کړیدي.

پیسې یو دولتي سند دی چې په بشري ټولنه کي دوه اصله لري چې د دولت له لوري نشر کیږي. د پیسو د نشر په ترڅ کي مرکزي بانک دنده لري تر څو په اړوند هیواد کي د پیسو د نشر کیدلو حجم د هغوی له پشتوانې سره په متناسبه توګه تر سره شي. پشتیوانه په یوه هیواد کي د خالص اجتماعې تولید استازي توب کوي چې وروسته اجتماعې تولید د یوه تولیدي واحد په عدد کي ضرب کیږي چې ملي عاید ته مو رسوي ،او له هغه څخه وروسته ملي عاید د طلا په ډول ټاکل کیږي او ورته مقدار طلا د ضمانت په توګه د پیسو نړیوال وجهې صندوق یا IMF “international moneytary fund“ ته ورکول کیږي او له هغه وورسته د پیسو نشر کیدل ترسره کیږي.

د دې لپاره چې دپولي سیستم په هکله کافې معلومت ولرو، په لومړی سر کي طبقه بندي کیږي او وروسته د هر سیستم په هکله معلومات ورکول کیږي چې په لاندي ډول دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. دوه فلزي سيستم

۲. يو فلزي سيستم پولی

۳. دپيسو مخلوط سيستم

۴. د پيسو د بانكنوټ سيستم

**۱- دوه فلزي سيستم يا (Double Standard)**

د پيســو دغه سيستم د سروزرو او سپينو زروپه څير دوه فلزات له ځانه سره لري او د تبادلې د وسيلې په توګه تري ګټه اخيستل كيږي. په دې سيستم كي طلا او نقره په مساويانه انداز ضرب شــوي وي او دواړه يې په شــيانو او خدمتونو باندي د تبادلې يا بدلولو وړتيا لري . د تبادلې لپاره د ورته ډول مسكوكاتو وزن د صرافانو له لوري ټاكل كيده خو د صرافانو له لوري د دا ډول سكو وړانــدي كولــو و نه كړاى شــول تر اوړدې مــودې پوري د تبادله كونكو اعتماد تر لاســه كړي ، همدغه لامل ؤ چې دغه چاره او د سكو د تضمين مسؤليت د دولت په غاړه ولويده. همدا شان د دواړو فلزاتو تر منځ د كومي ځانګړي اړيكي د نه شــتون له كبله دې سيســتم ونكړاى شواى د اوږدې مودې لپاره خپل موقف او مقام وساتي او د يو لړ مهمو ستونزو د ايجاد لامل وګرځيده تر څــو پــه ۱۸۴۸ ام كال كي د صنعتي انقلاب له رامنځته كيدلو سره صنعت پراختيا وكړه او په زياته انداز سرب له ســپينو زرو سره يو ځاى اســتخراج شــول او په دې توګه د نقرې او طلا د ارزشت تر منځ يو معقول تناسب تامين شو.

لومــړني هيــواد چې په دې مورد كی يې اقدامات وكړل د فرانسي هيواد دی. په دې هيواد كي د سپينو او سرو زرو د سكو تناسب داسي تعريف شو چې بايد يوه سكه د ۵۱۲،۱۵ په مقابل كي تبادله شي ، دغه پيښــه د تبادلې د انكشــاف لامل شوه او د تبادلې پروسي ته يې چټكتيا ور وبښله خو په نورو هيوادونوكی د ورته تبادلې د لوړوالي له كبله بيا هم يو لړ ســتونزي منځته راتلي چې دغه ستونزه د Thomas Grasham په نامه په ۱۵۷۹ ام كال كي توضيح شوه او له همدې كبله دغه قانون د (ګريشم) د قانون په نامه يادېږي . (د ګريشم قانون د دې څرګندونه كوي چې ښې پيســې هميشه د بدو پيسو په واسطه خرابيږی او يا له منځه وړل كيږي) د ورته قانون د سيستم چلند په دې ډول دی چې : كه چيرته په فرانســه كي تثبيت شــوي تناســب د معيار په ډول قبول كړو، ورته تناسب انګلستان ته هم خپريږی . په انګلستان كي د طلا يوه سكه د ۱۶ نقره يې سكو په مقابل كي بدليږی چې دا آمر د دې لامل كيږي چې له انګلســتان څخه دنقرې واحدونه بيرته فرانســې ته وليږدول شي او په پايله كي يې د طلا ارزښــت زياتيږي. كه چيرته ورته ډول تبادله دوام وكړي، په پايله كي يې د نقرې د تبادلې تناسب خپل ځاى سرو زرو ته پريږدی او د پيسو د يوه فلز سيستم رواج مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲. د پیسو یو فلزي یعني طلایې سیستم یا (Monometalism)**

له یوې مودې وروسته یو لړ ستونزي منځته راځي چې د وخت د صنعت او بانکداري د تکامل په برخه کي د جدي بدلونونو لامل گرځي. ورته سیستم یعني د طلایې پیسو د سیستم پرمختګ د نقرې د زیاتې عرضې او ندرت د امحا له کبله ندی ، بلکي د ځانګړیو صنعتې بدلونونو له امله ده . صنعتي انقلاب په ترڅ کي چې په اروپا کي د اقتصادي او اجتماعي بدلونونو لامل وګرځیده، د سربو فلز ته سخته اړتیا را منځته کړه، په ورته حال کي د سریو د ا ستخراج خصوصیات داسي دي چې له نقرې سره یو ځای تولید او استخراج کیږي. دغه پیښــه د دې لامل شوه چې د سرپو زیاتوالي په خپل سري توګه د سپینو زرو زیاتوالي ته لاره هواره کړه او دغه فلز د یوه نادر یا لیږ موندل کیدونکي فلز په توګه خپل حیثیت له لاســه ورکړ . له بله لوري د بانکنوټ ایجاد او منځته راتګ او دغه ډول پیسو ته د خلکو د اړتیاؤ زیاتوالي د دې لامل شو چې د سپینو زرو سکي ورو ، ورو خپل خپل موقف له لاســه ورکړي . په دې توګه د سرو زرو ســکي د پیسو په توګه او له هغه وروسته د پیسو د پشتواني په توګه ومنل شوي چې دغه بدلونونه د لومړي ځل لپاره په اروپا کي را منځته شــو خو په نوره نړۍ کي لا د پیســو هماغه نقره یې سیستم دوام درلود چې د هند په نیمه قاره او د هغې په شاوخوا کي تر ډیره وخت د ګټې اخستلو وړ بلل کیده .

باید و ویل شــی چې د لومړي ځل لپاره په ۱۸۱۶ ام کال کي په انګلســتان، وروسته په فرانسه اوله هغه وروسته په امریکا کي دغه سیستم ومنل شو.

**۳-د دوو فلزاتو مخلوط سیستم :** په دې سیستم کي دوه ډوله پولی حرکتونه مشاهده کولای شو.

الف: په مسکوکاتو کي د یوه قیمتي مخلوط استعمال

ب: هغه پولي سیستم چې له طلا یا نقرې څخه یې د پشتواني په توګه کار شوي وي.

د دغو سیســتمونو هر یو یې په یوه مشــخص تناســب سره دبیا پیرلو مخلوط (ګډ) سیستم بلل کیږي.

د بانکنوټ پولی سیســتم منځته راتګ په فلزي پولي سیســتم کي یو لړ ســتونزي په ډاګه ګړي . لومړنۍ بیلګه یې له یوه ځای څخه بل ځای ته د فلزاتو د لیږد را لیږد ســتونزه ده چې خلک یې د بانکنوټ دسیستم منځته راوړلو ته تشویق کړل.

**۴-د بانکنوټ سیســتم:** د بانکنوټ سیستم د بشر له ســترو اختراعاتو څخه ګڼل کیږي. د اقتصاد دعلــم زیاتره پوهانو د بانکنوټ تعریف داسي وړاندي کړی دی: بانکنوټ له هغه اعتباري ســند څخه عبارت دی چې د دولتونو له لوري د توکو د تبادلې په موخه د اصولو له مخي نشر شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاغـذ د لومـړی ځل لپاره په دوهمه میلادي پیړۍ کي په چین کي اختراع شـو خو په اروپا کی له پیړیو وروسـته د خلکو لاس ته ورسـیده خو  کاغذ ته ورته د پیسـو د یو ډول پدېدي  د کاغذ له اختراع څخه ډیر  وړاندي رواج درلود. په ابتدایې ټولنو کي له مخصوصو پوستکو څخه د پیسو په ډول کار اخیسـتل کیده،  په اروپا کي به له پوسـتکي څخه یوه ټوټه جلا کیدله او د ټول پوستکي د ځاینده په توګه به تري  کار اخیسـتل کیده.  په یونان او روم کي له میلاد څخه وړاندي کاغذې پیسـو رواج درلودچې د اوسـنیو کاغذي پیسـو مخترعینو هم له دغه اصل څخه په استفادي سره کاغذې پیسې منځته راوړیدي.

د پیسو مورخین عقیده لري چې کاغذي پیسې  د لومړی ځل لپاره په اتمه میلادي پیړۍ کي  د فلزاتو د لیږد را لیږد په سـتونزه باندي د غلبه موندلو په موخه منځته راغلي . له اتمې پیړۍ څخه د اولسمي پیړۍ تر نیمایې پوري  د چین د امپراطور  او له هغه وروسته د مغلو له  لوري  کاغذي پیسو ته زیات انتشار ورکړل شو.

که چیرته د پیسو د نشر د اصل په باره کي بحث وکړو ، پایله تر لاسه کیږي  په مختلفو هیوادونو کي اړوند اصول  متفاوته بڼه لري ،بناءً  په بیلابیلو هیوداونو کي د پیسو نشر کیدل  د دوو اصولو له مخي مطالعه کولای شو.

الف:  د ټولني د اړتیاؤ اصل

ب: د بانکي اصولو له مخي د پیسو د نشر اصل

**الــف- د ټولنــي د اړتیاؤ اصل:**  دا د بانکنوټ د نشر له هغه اصل څخه عبارت دی چې پیســې  د ټولني  داړتیاو  د منبع او اساس په توګه پیژني .  دغه اصل د لومړی ځل لپاره په فرانسه کي منځته راغي ،  په دې وخت کي د فرانسي بانکونه په دې باوري شـول، چې په کار نه ده  د پیســو د نشر لپاره د هغوی  پشتوانه  ضروري و ګڼل شي  ځکه دغه پیښه  ممکن د دې لامل شی چې د اقتصادي او ټولنیز رشد لپاره  دلازیمي لګښتونو  اړین کیدل را منځته کړي  پداسي حال کي چې  د پشتیوانې په توګه  پولي اصل د انګلستان له لوري تایید شو. دغې پیښې دا مفکوره ایجاد کړه چې پیسې باید په هغه اندزه نشر شي چې له خپلي پشـتوانې سره متناسبي وي تر څو له انفلاسیوني شرایطو څخه مخنیوي وشي  ځکه د پیسو د انتشار په ترڅ کي د کنترول نه شتون  انفلاسیون ته لاره هواروي .

له همدې کبله  په لومړی پړاو  کي د(Dufrance)  په نامه د  فرانسې د مرکزي بانک له لوري پیســې نشر شـوي او په دوهم پړاو کي د پشتوانې له اصل څخه استفاده وشوه او په دې توګه په هغه ځای کي د پیســو ۷۵٪ او وروســته ۲۵٪ پشتوانه قانوني اعلان شوه . له بله لوري  د انګلستان دولت ۱۰۰٪  پشتیوانه وړاندي کړه  له همدې کبله  په ۱۸۸۴ ام کال کي د پیل یا  (Plat)   د طرحه شــوي قانون د طرفدارانو له لوری د ســخت فشــار  له کبله د پیل قانون تصویب شو. د دې قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطابق هر هیواد اړ دی چې د ځواکمني پشـتواني د درلودلو په ترڅ کي پیسـې نشر کړي. دغه قانون د۱۸۸۴ ام کال د جنوري په میاشـت کي د انګلسـتان د بهرنیو چارو د وزیر (رابرټ پیل) په نوښـت د هغه هیواد مجلس ته وړاندي او تصویب شو چې تر اوسه پوري د هغه په نامه یادیږي خو کومي پیښي چې له هغه وروسته منځته راغلي د یادشوي قانون نیمګړتیاوي یې په ګوته کړي او د انګلستان دولت په ناچاره توګه له دې اصل څخه پشا شو. سره لدې چې د پشتواني دغه اصل د پیسـو دمحوري اصل په توګه منل شـوي خو له دغه اصل څخه د تیښـتي یا پشـا کیدلو دوه عوامل خورا موثر ول.

۱. صنعتي انقلاب او لدې انقلاب څخه د ګټې اخیستنی په موخه د لګښتونو زیاتوالی
۲. د فرانسي او انګلستان تر منځ د جنګ پیل کیدل.

**۱. د پیسو دنشر بانکي اصل:** د پیسو د بانکي اصل په برخه کي یادونه کیږي، هغه هیوادونه چې په مرکزي بانکونو کي یو مقدار طلا د تضمین په توګه ږدي او له هغه وروسـته د پیسـو په نشر باندي پیل کوي. د طلا دغه مقدمه په هیواد کي د اقتصادي فعالیتونو نماینده ګي هم کوي چې د ناخالص اجتماعي تولید په نامه یادیږي. له دغو اقتصادي فعالیتونو څخه وروسته depreciation یا فرسایشات، مزد او معاشات وضع کیږي چې په پایله کی یې خالص اجتماعې تولید پاتي کیږي چـې د مقـدرا او میچې له مخی یې دولت پیسـې نشر کوي. دا چې مرکـزي بانک د ورته بهیر د کنترول دنده په غاړه لري نو له همدي امله د بانکي اصل په نامه یادیږي .

**د پیسو دندې :**

د دې لپـاره چې د پیسـو دندې پـه غوره توګه درک کړو ،غوره ده چې پیسـې د هغوی د دندو له نقطه نظره تعریف کړو: هغه وسـیله چې د تبادلې او یا اقتصادی ارزښـت د سنجش په توګه استعمالیږي د پیسو په نامه یادیږي.

د پیسو له دغه پورتني تعریف څخه په ډاګه کیږي چې پیسې لاندي دندې تر سره کوي:

۱. د تبادلې د دندې په توګه د پیسو اهمیت:
۲. د سنجش او ارزښت معیار
۳. د پرداخت وسیله
۴. د زخیره کولو وړتیا.

**۱. د تبادلې د دندي په توګه د پیسو اهمیت:**

پـه تبادله کی شـته سـتونزو ته په کتني سره د پیسـو دغـه دنده په توکـو او خدمتونو کي څرګندیـږي. تبادله پـه خپل ذات کي څو ډولونه لري چې دتوکو مسـتقیمه تبادله یا مبادله له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسو څخه پرته تر سره کیږي او غیرمستقیمه هغه یې دتوکي په مقابل کي دتوکي تبادلې ته ویل کیږي خو د توکو ارزښت د پیسو په واسطه سنجول کیږي. په خالصه تبادله کي پیسې د ارزښت د سنجولو د معیار په توګه نه واردیږي بلکي په خالصه تبادله کي چې کومه ستونزه منځته راځي دا ده چې د تبادلې لپاره ارایه کیږي.

فعلاً په پرمختللیو اقتصادونو کي خالصه تبادله لږ تر سترګو کیږي خو غیر مستقیمه تبادله متداول حالت لري البته لدې کبله چې په غیر مستقیمه تبادله کي د توکو ارزښت د پیسو په واسطه سنجول کیږي.

کله چې له پیسو څخه د توکو د تبادلې د وسیلې په توګه کار اخیستل کیږی، تبادله په دوو ډولونو ویشل کیږي، په لومړی سر کي توکي په پیسو باندی بدلیږی او له هغه وروسته پیسې په نورو توکو باندې بدلیږي. د توکو پیر او پلور په تبادلوي اقتصادکي د مستقیمې تبادلې د ځای ناستي حیثیت لري. کوم شخص چې تر خپلې اړتیا زیاتي پیسې مبادله کړي نو بیا هم پیسې په توکیو(اشیاو) باندي مبادله کوي، که هغه وغواړي اخستل شوي توکي په پیسو باندي مبادله کړي، اصلاً شیان د خپل خرید له قیمت سره تبادله کیږي او دغه خرید د اړتیا وړ نورو شیانو د لاسته راوړلو لپاره کارول کیږي. پیسې په خپل دغه نقش کي د تولید عواملو ، شیانو او خدمتونو تحرک ته چټکتیا ورکوي او اقتصادي رشد ګړندی کوي.

**۲- د ارزښت د معیار په توګه د پیسو دنده:**

د ارزښت د معیار په توګه کولای شو پیسې په هر معیار باندي اندازه ګیري او مقایسه کړو. له پیسو څخه د اقتصادي ارزښتونو د مقایسې په توګه استفاده کیږي. لکه له متر څخه چې د اوږدوالي او له کیلو ګرام څخه د وزن د اندازه ګیري په برخه کي استفاده کیږي. په تبادله کي دنورو توکو د لاسته راوړلو لپاره د توکو ظرفیت د مصرف اقتصادي ارزښت دی. دغه ارزښتونه په اقتصاد کی د قیمت په واسطه بیانیږي. د ارزښت د معیار په حیث له پیسو څخه د ګټې اخستلو په واسطه د مختلفو توکیو تر منځ اړیکه مشخص کیږي.

د اندازه ګیري د ټولو معیارونو په خلاف د اقتصادي ارزښتونو د اندازه ګیري دغه معیار یعني پیسې د نیمګړتیاؤ لرونکي دي، د مثال په توګه که چیرته د اوږدوالی معیار په نظر کي ونیسو، د یوه متر اندازه په ټولو ځایونو کي سره ورته او ثابته ده، په داسي حال کي چې پیسې همیشه له قیمتونو سره اړیکه لري او قیمتونه تل نوساني حالت لري او اندازه ګیریي یې ثابته نه پاتې کیږي. د معیار په مقدرا کي دغه عدم ثبات د دې لامل ګرځي چې پیسې په بشپړه توګه نشي کولای د اقتصادي ارزښت د معیار په صفت خپله دنده اجرا کړي.

**۳- د پرداختونو دمعیار په توګه د پیسو دنده:**

د پرداختونو د معیار په توګه د پیسو اقتصادي نقش د توکو او خدمتونو د مبادلی د وسیلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په توګه د پيسو له دندي سره نږدې اړيکي لري. نه يوازې شيان او خدمتونه د پيسو په مقابل کی مبادله کيږي بلکي د تعهد په مقابل کي د پيسو پرداخت په راتلونکی کي رد او بدل کيږي. کله چې يو کس توکي اوخدمتونه پيري، په راتلونکي کي د توکو اوخدمتونو په مقابل کي پلورونکي ته د توکو او خدمتونو پولي ارزښت واپس يا ادا کوي. د نويو اقتصادي ټولنو د خواصو له ډلې څخه د افرادو له لوري افرادو ته د معينو قرضونو ورکول تر ټولو څرګند خصوصيت دي. بانکي حسابونه، د شرکت د قرضدارانو حســاب، د خصوصي او دولتي برخو د قرضې اوراق او ټول قرضونه له تعهد او ژمني سره سپارل کيږي. ټول دغه ډول قروض د پيسو په واسطه بيان او تعريف شي.

نه يوازې دا چې پيســې په خپل واقيعت کي د ارزښـــت د معيار په توګه د نيمګړتياؤ لرونکي دي ، بلکي د پرداخت د معيار په صفت هم بشــپړتيا نلري. دغه نيمګړتيا د دې لامل ګرځي چې قرض اخيستونکي او قرض ورکوونکي ته ډېرې ستونزي را مخ ته کړي ، دمثال په توګه: که نن ورځ له يوه نفر څخه ۵۰۰ افغانۍ قرض کړو او ژمنه وکړو چې پنځه کاله وروسته به دغه قرضه بيرته ادا کوو، د قرضو د بيرته ورکولو لپاره د هغه ژمنه ثابته پاتي کيږي. که چيرته د پيسو درانيولو قدرت زيات کړی وي، قرض ورکوونکي په غير عادلانه توګه سود مند کيږي، که چيرته د پيسو د اخيستلو قدرت کم شوی وي ، تاديه کوونکی په غير عادلانه توګه د اخيستلو کم قدرت قرضدار ته ورکوي چې دغه پيښه په واقيعت کي د پيسو يو ډول نيمګړتيا په ډاګه کوي.

يو شـــمير اقتصاد پوهان وړانديز کوي چې د پرداخت د معيار په صفت پيســې بايد د زيات انحطــاف لرونکــي وي. کــه چيرته دغــه وړانديز و منــل شي ، قرضدار ته بايــده دې چې قرض ورکوونکــي تــه د قرض ورکولو په ترڅ کي د رانيولو هغه قدرت اداکړي چې د قرض اخيســتلو په وخت کي يې تر ي تر لاسه کړی وو ، که څه هم پيسو خپلې فزيکي بڼې ته تغير ورکړی وي.

**۴- د رانيولو د قدرت د وسيلې په توګه د پيسو دنده:**

کله چې پيســې د مبادلاتو د تر سره کولو په توګه کارول کيږي، هغه عمل چې پيســې يې تر سره کوي په دوو برخو ويشل شوی دی.

**الف:** په لومړی سر کي يو شی په پيسو اخيستل کيږي او له هغه وروسته تر لاسه شوي پيسې په نورو شــيانو او خدمتونو کي ضرب کيږي يانې(يعنی) رانيول شــوی توکي پلورل کيږي او له درکه يې په تر لاســه شــويو پيسو باندي نور شيان اخســتل کيږي نو ځکه خو ويلای شو چې د پيسو په واســطه مبادله په حقيقت کي له جنس په جنس تبادلې څخه عبارت دي. دغه معنا سمدلاســه استهلاکي توکي په بر کي نه نيسي.

**ب:** په تبادله کي ځنډ را منځته کيدی شي په دې معنا چې پيســې د خپلې خوښــې تر وخت پوري ســاتلي شي يا د پيســو په واسطه هغه توکي رانيولای شــو چې ژر د خرابيدلو خاصيت نلري ، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسو دغه حالت په حقیقت کي  د پیسو د اخستلو د قدرت اجرا کیدل ګڼل کیږي.

**۵- په بانکنوټ باندي د طلا د تبادلې معیار یا (Gold Specie Standard)**

**الف:** په طلایې مســکوکاتو باندي بدلیدونکی بانکنوټ :  دا ســټنډرډ د دې څرګندونه کوي  چې په چلند کي اچول شــوي بانکنوټونه په مستقیمه توګه په طلایې مسکوکاتو باندي د بدلیدلو وړتیا یا اعتبار لري. دغه ســټنډرد تر ډیره وخته د اعتباري اســنادو لپاره یې په بازار کي زمینه مســاعده کړي  وه، خو د اعتباري قوي د نزول له کبله  یانی(یعنی) له یوه لوري د طلا  ساتلو ته د دولتونو د  علاقمندي لرل او له بله لوري بانکونه په طلایې سکو باندي د بدلون په ترڅ کي  د  بانکنوټونو د څښــتنانو له هجوم سره مخ کیږي چې په پایله کي یی د بانکونو طلایې زیرمي په ګړندۍ توګه کمیږي  او ضربې ســتونزي را منځته کوي . له همدي کبله دغه ســتندرد خپل اهمیت او ګټورتوب له لاسه ورکړی  او د یوه نوي سټنډرډ د منځته راتلو لپاره یې پلمه جوړه کړه تر څو په اقتصاد کي یو نوی حرکت را منځته شي.

**ب:** د طلا په میله باندي بدلیدونکي بانکنوټ **(Standard Dilution Gold)**

تر دغه پولي سټنډرډ لاندي  مورږ په عمومی توګه  له پخواني سټنډرډ څخه د وتلو بهیر مطالعه کو. لاندي جمله دې تکمیل شي.

دا ســټنډرد د دې ښــودنه کوي چې د بانکونو د طلایې زیرمو له کموالی څخه د مخنیوي په موخه چې د پخوانی معیار له سترو نیمګړتیاؤ څخه شمیرل کیدې ، په هغه و ویشل شي تر څو له بانکونو څخه د بانکنوټونو  د بدلېدو په واسطه طلا تر لاسه کړی.

هغه شمعه دان چې زیاتره له اووه کیلوګرامه طلا درلوده مخنیوی وکړ.

دغه ستندرد تر یوه وخته خپل کار تر سره کړیدی خو په دې نه دی توانېدلی چې د بانکونو د طلا د زیرمو له کموالي څخه مخنیوی وکړي.

**ج-د سرو زرو اسعاري معیار یا  (Gold Exchange Standard )**

دغه ستنډرډ له دې کبله ظهور موندلی  چې د بانکنوټ پخواني سټنډرډ په طلایې میلو باندي د بدلیدلــو لــه کبله د طلایې زخایــرو د کموالي د مخنیوي توان نه درلود نــو له همدې کبله دغه سټنډرډ  له داسي حرکاتو سره منځته راغي چې له کبله یې یو ډول پیسې په نورو هغو پیسو باندي بدلیدلای شــوای چې په طلاباندي د بدلیدلو وړتیا لري. دغه سیستم په حقیقت کي په هندوستان کي د نقرې د پولي سیستم اقتباس ګڼل کیږي.

**د-دطلایې اسعارو پولي  سیستم، یا سیستم پولی طلا اسعاری**

له دوهم نړیوال جنګ نه وروســته نړی د ســترو مالي نهادونو د ایجاد شاهده ده او له همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیتې څخه وروســته یې د لومړی ځل لپاره واحد پولي سیســتم تر لاسه کړ چې د نورو عواملو له کبله یې دوام ونکړ. د دوهمي نړیوالې جګړې فاتح هیوادونو له لومړی نړیوال جنګ نه ورسته د ایجاد شــویو شرایطو دمخنیوي په موخه تصمیم ونیو تر څو مهار کوونکي تدابیر پکار واچوي ، له همدې کبله د ۱۹۴۵ ام کال د ډســمبر د میاشــتي په ۲۷ امه نیټه د نړې ۲۹ هیوادونه د امریکا په (بریټن ووډز) کي سره کیناستل او له اوږدې مناقشې وروسته د امریکا له لوري د (وایټ) او د انګلســتان له لوري د (د کنیز) طرحې ومنل شــوي چې په پایله کي یې د پیسو د نړیوال وجهې صندوق یا I. M. F او I. B. R. D یا نړیوال بانک په څیر دوه ستر نړیوال سازمانونه تاسیس شول.

په دغه کانفرانس کي تر ټولو مهم ټکی دا و چې د لومړی ځل لپاره د پیســو د واحد نړیوال سیســتم په پښــو و دریده ، د دې سیستم اصلي میکانیزم دا و چې د امریکا ملګرو هیوادونو ژمنه وکــړه تــر څو د ۵۳ ډالرو په مقابل کي یو Once اونــس طلا پرداخت کړي. دا په دې مانا(معنا) ده چې د نړی د طلایې زیرمو د کموالي د مخنیوي په موخه اســعار یا طلایې میلې چې په خپله په سرو زرو باندي د بدلیدلو وړتیالري، د پیســو د پشــتوانې په توګه قبول شي. په زړه پوري ټکي پکي دا دي چې د ژمني په وخت کي امریکا یوازي د اتلس ملیارده ډالرو لپاره پشتوانه درلوده خو دغــه هیــواد د ۸۳ ملیارده ډالرو په نشر کولو لاس پوري کړ او په دې توګه یې د امریکا اقتصادي، سیاسي او ټولنیز سیاست له نړی سره مستولي کړ.

د اقتصاد په قاموســونو کي دغــه حرکت د ډالري ډیپلومونو په نوم تثبیت شــویدی، له هغه وروســته پــه ۱۹۷۰ ام کال کــي د امریکا متحدو ایالاتو د ۱۵ ملیارده ډالــرو په مقابل کي چې په سرزرو باندي بدلیدلای شــوای، ۱۰۰ ملیارده نور ډالر نشر او بازار ته عرضه کړل چې په دې توګه په طلا باندي دبدلېدونکی یوه ډالر په مقابل کي یې ۷ ډالره نشر کړل.

اروپایې ټولني چې فرانسه یې په سر کي وه د جنرال (دوکول ) په مشري له دغه سیستم څخه د وتلــو هــلي ځلي پیل کړي له همدې کبله په ۱۹۷۱ ام کال کــي یې په سرو زرو باندي د زیرمه شویو ډالرو د تبدیلې غوښتنه طرحه او په همدې کال یې امریکا ته وړاندې کړه . امریکا د نړیوالي ژمني مطابق ورته چارې د تر سره کولو له درکه د طلایې زیرمو له ســخت کمي سره مخ شــوه له همــدې کبله په ۱۹۷۳ ام کال کې دولت د ریچارډ زیکســن په مــشري خپله نړیواله ژمنه بیرته واخیسته او په دې توګه د بریټن وډز پولي سیستم له ماتي سره مخ شو.

### د دویم څپرکي دمطالبو لنډیز :

د دې څپرکــي له مطالعې وروســته و پوهېدو چې کومو عواملو د پولي سیســتمونو منځته راتلو تــه لاره هــواره کړه او د فلزاتو پیژندنې په اقتصادي برخــو کی یې کوم بدلونونه را منځته کړل . همداشــان و پوهیــدو هغه بانکنوټونه چې نن ورځ زموږ پــه جیبونو کي دي، له لومړني حالت څخه یې څه ډول رشد او تکامل وکړ، په لومړی سر کي یې څه ډول فزیکی جوړښت درلود او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســتونزي چې د فلزاتو له کشــف نه وړاندي د تبادلې په ســاحه کي موجودې وې د کوم اقتصادې میکانیز م په برکت له منځه ولاړې  او له فلز څخه بانکنوټ یا کاغذي پیسو ته د تبدیلی په برخه کي کوم اساسي رول لري.

همدا شان  د دې څپرکي  په اوږدو کي له فزیکي لحاظه  له پیسو او له همدې لارې په ټولنه کی دهغوی له مقدرا سره اشنا شوو.

په یوه ټولنه کي پیسې د دوو اصولو له مخي نشر کیږي چې یو یې  د ټولني د اړتیاؤ له رفع کولو څخــه عبــارت دی او بل یې بانکي اصل دی چې دغه اصل د یوه تضمین له مخي  دپیســو د نشر اجازه ورکولای شي. کله چې پیسې د خلکو خدمت ته وړاندي کیږي ، ځانګړي دندې تر سره کوي چــې دغــه دنــدې د ټولني  اړتیاؤ  ته د  ځواب ویلو تر څنګ په ورته حال کي د خپل ارزښــت له مخي  د معیار ټاکل او تثبیت  هم ټاکل کیږي او هم  د طلا په مقابل کي خپل ارزښت ټاکي چې په کوم مقدار طلا باندي بدلیدی شي.

**پوښتني:**

۱.پــه پخــوا وختونو کي د کوم علــت له کبله له آلاتو او فلزي اوزارو څخه  د پیســو په توګه ګټه اخستل کېده؟

۲.له ۸ پیړۍ څخه تر ۱۷ پیړۍ پوري  په کومو هیوادونو کي کاغذې پیسې مروجې وی؟

۳.پولي سیستم په څو دستو ویشل شویدی،  هر یو یې واضیح کړئ؟

۴.د بانکنوټ د نشر د اصل ، د پشــتیوانې د اســاس او ټولنی د اړوند اړتیاؤ په برخه کي معلومات ورکړئ؟

۵.د پشتوانې له اصل څخه د تېښتې په برخه کي کوم عوامل موثر ول چې په انګلستان کې ترسره شول، نوم یې واخلی او واضیح یې کړئ؟

۶.پیسې کومي دندې تر سره کوي په لنډه توګه یې تشریح کړئ؟

۷.کوم ستندرد وه چې  د نړیوالو سازمانونو د منځته راتګ لامل شو او کومو هیوادونو په دې برخه کی مهم رول درلود؟

۸.د پولي ستندردونو په برخه کي څه معلومات لری واضیح یې کړئ؟

۹.پولي سیستمونه واضیح کړئ؟

۱۰.پولي سیستمونه له یو بل سره مقایسه کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## د پیسو ویش او د هغوی ارزښت

**ټولیزه موخه:**
د تکنالوژۍ له مخې د پیسو ویش او د پیسو د ارزش تثبیت

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې به محصلین وکړای شي چې:

۱. له تکنالوژۍ څخه د استفادې کولو ګټې او زیانونه په ګوته کړي.

۲. د انټرنیټ او کمپیوتر له لارې د پیسو ډولونه مطالعه کړې.

۳. د پیسو وېش توضیح کړي.

۴. د پیسو د رشد او تکامل مراحل تشریح کړي.

**کاغذي پیسې :**

کاغذ د لومړی ځل لپاره په دوهمه میلادې پیړۍ کې په چین کې اختراع شو خو په اروپا کې د پیړیو له تیریدلو وروسته د خلکو لاس ته ورسیدو. ویل کیږي چې د کاغذي پیسو په څیر پدیدې د کاغذ له اختراع څخه ډېر وړاندي رواج درلود. د اروپا په ابتدایي ټولنو کې له پوستکي څخه د ارزښت د نماینده په توګه کاراخیستل کیده. په ورته توګه له کاغذي پیسو څخه ګټه اخیستل تر میلاد د مخه په یونانیانو او روسانو کې دود و. په آتن کې مسي سکو رواج درلود چې تر فلزي سکو یې زیات ارزښت درلود، چین د کاغذ د مخترع په توګه د لومړی ځل لپاره لدې پدېدې څخه ګټه واخیسته. په دې برخه کې پوړي مورخین عقیده لري چې کاغذي پیسې د لومړی ځل لپاره په اتمه میلادې پیړۍ کې د فلزي پیسو د حمل او نقل په ستونزه باندې د برې موندلو په موخه را منځته شوي چې له اتمې پیړۍ څخه بیا تر نولسمي پیړۍ پوري له لنډو زماني فواصلو څخه پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چيناېي امپراطوريو او وروسته د مغلو له لوري منځته راغلی دي چې د چنګيز له لشکر کشي سره يې زيات انتشار وموند. د دې دورې په لومړيو کی په اروپا کي د لګښتونو د پرداخت لپاره له يو ډول چرم څخه د بېلابېلو احکامو په توګه کار کول رواج شول.

د کاغذي پيسو سيستم په خپل وخت کې د سترو اختراعاتو له ډلې څخه ګڼل کېده ، آن تر دې چې په تبادلوي اقتصاد کې يې يو نوی حرکت را منځته کړ. د دې سيستم ميکانيزم خورا ساده و چې تر اوسه پوري په هماغه ډول په حرکت کي دی.

دا چې د څه لپاره دغه سيستم ايجاد شو، په دې اړه د دووټکيو يادونه کوو:

الف: د طلا دذخايرو د کموالي مخنيوی او د هغه اهميت.

ب: د لګښت صعودي سير او دهغه له کبله زياتو پيسو ته د ټولني د اړتيا زياتوالی.

په دې توګه بشر د خپلو اړتياؤ د لرې کولو په موخه کاغذي پيسې ايجاد کړې. دغه پيسې په سرو زرو باندې د بدلولو وړتيا نلري بلکي پخپله پخپل ذات کي سره تبادله کيدلای شي . نن ورځ د نړۍ ټولې پيسې دا خاصيت لری .

که تاسو د خپل جيب پيسې وګوری د نوټ په سر باندي ليکل شوي جمله داسي ده چې:
«ددی سند لرونکی ته وعده ورکوی چه دغوشتنی په وخت کي .شل افغانۍ ورکړی»

دا جمله دا معنا لري د شلو افغانيو نوټ يوازي په خپل ذات کي د تبادلې وړتيا لري او له اسمي ارزښت سره په تړاو په نورو توکو باندي د تبادله کولو وړتيا نلري. په دې توګه که چيرته بانکنوټ لرونکی وغواړي په لاس کي شته پيسې بانک ته يوسي او تبادله يې کړي هغه يوازي دومره کولای شي هماغه نوټ بيرته تر لاسه کړي.

**د الکترونيکي پيسو منځته راتګ**

د کاغذي پيسو د منځته راتلو په بهير کي وليدل شول چې يو لړ عواملو په مستقيمه توګه دې ته زمينه برابروله چې کاغذي پيسې منځته راشي، د الکترونيکي پيسو د منځته راتلو په برخه کي هم يوه مهم دليل ته اشاره کولای شو چې له صنعتي انقلاب څخه عبارت دی او تر ټولو مهمه موضوع يې د سوداګرۍ له نړيوالتوب څخه عبارت دی چې په ترڅ کي يې له بانکي حسابې تيروتنو څخه د مخنيوي او اقتصادي مثمريت په موخه الکترونيکي پيسې له لاندی ډولونو سره منځته راغلې:

**۱. د قرض ورکولو کارت يا Debit card:** بدهې کارت اعتباري کارت ته ورته کارت دی چې مشتريانو ته د توکو د پير په وخت کي د هغوی له بانکي حساب څخه په مستقيمه توګه د الکترونيکي اسانتيا په مټه د توکو د قيمت د ادا کولو وړتيا ورکوي. بدهې کارتونه په هغو ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایونو کي  د استفادې وړ دې چې تاجران په خپل حساب کي کریډیټ  کارتونه قبلوي. نن ورځ د نغدو پیسو په پرتله له دې روش څخه زیاته استفاده کیږي د مثال په توګه  کله چې تاسو له کوم پلورنځي څخه شیان اخلی ، خپل  بدهي کارت یا ډبټ کارت د ماشین په واسطه مطالعه کوئ  او خپل کارت د بانک د حساب په مرکز کي داخلوئ او بټن کیکاږی، په دې صورت کي فوراً  ستاسو له حساب څخه خریداري شوي مبالغ کمیږي.

**۲. د ارزښـــت د ذخیـــرې کارتونه:**  دغه کارتونه د قرض ورکولـــو او اعتبار له کارتونو سره ورته دي، یوازینی توپیر په کي دا دې چې د ارزښـــت د زیرمه کولو کارتونه د ثابتو اســـمي مبالغو د مقدار لرونکي دي .

د ارزښـــت د زیرمه کولو په عادي کارتونو کي خریدارې مبالغ له  وړاندې د ډالر په ډول مشـــخص شوي وي  چې لګوونکی (مصرف کوونکي) یې په راتلونکی کي په لګښت رسوي.

د ارزښـــت د زیرمه کولو په کارتونو کي تر ټولو مجرب هغه هوشـــیار یا شـــارټ کارت دی  چې د کمپیوټري جیب په توګه کولای شي د اړتیا په وخت کي د خپل بانک له بانکي حساب څخه لازیم رقم مصرف کړي.

هوشـــیار کارتونه کولای شي  د شـــخصي کمپیوتر یا ځآنګړیو تلفونونو له لارې معاملات تر سره کړي. په دې وروستیو کي  د ارزښت د زیرمه کولو داسي کارتونه هم معمول شوي دې چې له هیواد نه بهر د کمپیوتر د پروګرام له لارې په  استرلیا، کانادا، چین، کالمبیا، دنمارک، فرانسه، ایتالیا، پرتکال، سنګاپور، هسپانیا، تایوان، انګلستان کي هم اړوند معاملات تر سره کړي.

له اړوند پروګرامونو څخه یو یې په لندن کي د موندکس شرکت له لوري ایجاد شـــو چې خپل ازمایش یې د ۱۹۹۵ ام کال د انګلســـتان د دروین په ســـیمه کي پیل کړ.  نه یوازې دا چې موندکس هوشیار کارتونه  د مصرف کوونکي او پرچون پلور تر منځ د وجه د لیږد یا انتقال اسانتیا برابروي، بلکي دلګوونکی(مصرف کوونکو) او بانکونو ترمنځ هم ورته سهولت مهیا کوي.

**۳. نغدې الکترونیکي پیســـې:** نغدې الکترونیکي پیســـې  د الکترونیکي پیســـو یو ډول دی چې په انترنیټ کی د توکو او خدمتونو د اســـتعمال لپـــاره کارول کیږي. یو پیرودونکی کولای شي په هغو بانکونو کي چې له انټرنیټ سره وصل دي، د حســـاب په پرانســـتلو سره الکترونیکي پیســـو ته لاره پیـــدا کړي او هغه خپل ځان یا خپل حســـاب ته انتقال کړي. که چیرته یو مشـــتري له الکترونیکي پیسوسره د کوم شي د اخیستلو پریکړه وکړي او له هغو پلورنځیو سره اړیکه ونیسي چې له انترنیټ سره وصل وي او په مشخصه توګه د خریداري کلمه انتخاب کړي ، په پایله کي الکترونیکي پیسې په اتومات ډول د هغه شـــخص له کمپیوتر څخه د ســـوداګر او هټۍ وال کمپیوتر ته لیږدول کیږي او ســـوداګر کولای شي انتقال شـــوي وجه د اجناسو له انتقال نه مخکي د مشتري له بانکي حساب څخه تر لاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلومړي ځل لپاره نغدي الکترونيکي پيسي د هالنډ په يوه شرکت کي تر استفادې لاندي ونيول شوی او د ۱۹۹۵ ام کال د اکتوبر په مياشت کي يې اعلان وکړ چې ياد شوي شرکت کولای شی شخصې کمپيوترونو ته نغدې الکترونيکي پيسې واستوي.

**۴. الکترونيکي چکونه:** دا چکونه د انټرنيټ استفاده کوونکو ته اجازه ورکوي چې د خپل حساب صورت په مستقيمه توګه د کاغذې چک له استولو پرته پرداخت کړي. په دې صورت کي چک په خپل شخصي کمپيوتر کي ليکل کيږي او بل کس ته استول کيږي چې په خپل نوبت سره بانکي حساب ته استول کيږي. که تر لاسه کوونکی بانک اعلان کړي چې الکترونيکي چکونه درست يا صحيح دي په دې حال کي د استوونکي له بانکي حساب څخه يو مبلغ د تر لا سه کوونکي حساب ته استول کيږي.

بانکداران په دې عقيده دې د الکترونيکي چکونو لګښت د کاغذې چکونو په پرتله ۳/۱ ځله اقتصادي دي. دغې فايدې ته چې په پايله کي يې د لګښتونو کموالی ترلاسه کيږي د زياتو شرکتونو له لوری ترجيح ورکول کيږي.

**الکترونيکي معاملات او په سوداګرۍ کې د هغوی ګټې:**

د دې لپاره چې د الکروتونيک په مفهوم باندي و پوهيږو ، غوره ده له تخينک څخه د استفادې په تړاو د تجارت مطالعه وکړو. په ۱۹ مه پيړۍ کي کولای شو له تخنيک سره په تړاو د تجارت ارزيابې وکړو چې په دې پړاو کي په بشپړه توګه د بيل شکل لرونکی دي. دغه خصلت کولای شو د توليد د ماهيت له مخې په ښه توګه مطالعه کړو ځکه په اقتصاد کي له توليد څخه موخه د ګټې لاسته راوړل دي . د دې موخې لپاره په تجارت کي له پرمختللې تخنيک څخه استفاده کيږي تر څو په خورا کم لګښت سره زيات مفاد تر لاسه شي او په ورته وخت کي د وخت له ضايع کيدلو څخه مخنيوی وشي. د تجارت په ډګر کي د معاملاتو لپاره له کمپيوتر او انټرنيټ څخه استفاده کول لاندې ګټې لري.

**۱- امنيت:** د اچې له لومړي سر نه د بشر په تاريخ کي د پيسو ليږد را ليږد تر ټولو مهمه ستونزه جوړوي چې امنيتې وضع ا وداسي نوری ستونزی له ځانه سره درلودی چې د تخنيک او علمي پيشرفت له کبله د پيسو د انتقال يا ليږد اسانتيا مساعده شوه چې تر ټولو مهمه وسيله يې له کمپيوتر او انټرنيټ څخه عبارت دي.

**۲- سرعت:** په دې برخه کي زموږ موخه په ګړندۍ توګه د تجارتي معاملاتو تر سره کولو څخه عبارت دي ځکه په خورا کم وخت کې له انټرنيټ خځه د استفادې له کبله زيات تجارتي معاملات تر سره کيدی شي چې د تجارت دغه ډول نن ورځ نړيوال شکل غوره کړيدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- آســانتیا او سادګي:** کولای شــو دغه ډول ګټې د ورځني تجارت په ساحه کې مطالعه کړو یانې (یعني) له کمپیوتر، انټرنیټ او پرمختللو وســایلو څخه ګټې اخیســتلو په لړ کې په کم وخت کي شــیان او توکی و لیږدولای شــو او په آسانۍ سره د هغوی معادل قیمتونه تادیه کړو. د څو کسانو په ځای کولای شــو د یوه ماشــین په واســطه زیات کار په موثره اندازه تر سره کړي چې دا پخپله د ســادګۍ او اســانتیا څرګندوونکي ده. د یوه بټن په کیکاږلو سره د نړۍ په هر ګوټ کي خپل مورد نظر توکي تر لاسه کړو.

**۴- کم لګښت:** د اجناسو د تبادلې په برخه کي د کمپیوتر او انترنیت له تخنیک څخه د استفاده کولو په ترڅ کي یوازي برق په مصرف رســیږي نور کوم جنسي او پولي مخارج نه واقع کیږي، نوپه دې اســاس د جنس او پیســو د ارزښــت په برخه کي کوم تغیر نه واقع کیږي او نه کوم کاغذ مصرفیږي او نه یې د لېږد لپاره کومو لګښتونو ته اړتیا لیدله کیږي ، په ورته توګه د وخت له ضایع کیدلو څخه مخنیوی هم د یادوني وړ ګڼل کیږي.

**۱. د انســاني تیروتنو کموالی:** له ورته سیســتم څخه یوه موخه په پولي محاسباتو کي د تیروتنو له کموالي څخه عبارت ده چې د معاملاتي جنس په برخه کي د هغه معین ادرس او مدرک ټاکي چې د سرګردانۍ لامل نه ګرځي ، نو په دې اساس له کمپیوتر او تخنیک څخه د ګټې اخیستنی په لړ کې د راکړې ورکړې په ټول بهیر کي کومه خطا یا تیر وتنه نه واقع کیږي حتی که چیرته کومه غلطې واقع هم شي په خورا لنډ وخت کي موندل کیدی شي.

**۲. د مدیریــت غــوراوی یا موثریت :** د مدیریت له بهبود څخــه موخه دا ده چې له کمپیوتر او انترنیټ څخه د اســتفادې کولو په ترڅ کي کولای شــو یو غوره مدیریت منځته راوړو او د تخطې په ترڅ کي له لنډ ځنډ نه وروسته مسؤل مدیر ته اطلاع ورکړه شي . له دغه تخنیک څخه د ګټې اخیســتلو په لړ کی د شایســته ســالاري اصل مراعات کیږي او یوه ســالمه او شفافه رهبري منځته راځي.

**۳. لــه پیرودونکــو سره غوره اړیکي :** لــه کمپیوتر او انټرنیټ څخه د ګټې اخیســتلو په لړ کی کولای شــو له مشتریانو یا پیرودونکو سره غوره متقابلي اړیکي قایمې کړو. داچې د ورته وسایلو د استعمال په درشل کی کارونه په ګړندۍ توګه تر سره کېږي، نو ددې لپاره کافي وخت موندل کېږي تر څو ورته اړیکې وســاتلای شــو چــې د ورته اقتصادي اړیکو په ترڅ کــې دمفاد زیاتوالی تحقق مومي.

**د پیسو ارزښت :**

د دې لپاره چې د پیسو په ارزښت باندی بحث وکړو ښه به وي تر یوه ځایه پخپله د ارزښت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

باره کي خبري وکړو او وروسته د هغو عواملو په اړه بحث او څېړنه وکړو چې د پیسو په مفهوم کي نغښتل شوی دي.

پوهیږو چې په یوه جنس کي د رانیولو د قدرت شتون د ارزښت څرگندونه کوي. د ارزښت د لرلو په ترڅ کي یو جنس د تبادلې وړتیا تر لاسه کوي . څنگه چې امتعه پخپله د اقتصادي خواصو لرونکې ده یانې(یعنی) پخپله په یوه بل جنس باندي د بدلولو وړتیا لري، او د انسان ځیني اړتیاوي پوره کولای شي ، نو ســوال مطرح کیږي چې په پیســو کې دغه خواص موندل کیږي او کنه؟، په ځواب کی ویلای شــو چې له کوم قید او شرط پرته په پیســو کي دغه ډول خاصیت شتون لري او په واسطه یې توکي اخیستل کېدی شي، نو په دې اساس په لومړی سر کې ویلای شو چې پیسې په خپل ذات کي یو ډول شی او د ارزښت لرونکې دي.

د پیسو د ارزښت تثبیت او د هغې د عمل کرد ډول د پولی سیاستونو له مهمو مسایلو څخه گڼل کیږي او کولای شو ارزښت یې د پیسو د داخلي او خارجې ارزښت له مخي تر مطالعې لاندي ونیســو. په بیلابیلو حالاتو کي د پیســو ارزښــت بیاهم متنوعه یا نامساوي دي چې موږ یې د هر یوه په برخه کي لږ ډیر بحث کوو، خو د مقدار او عرضې له مخي د پیسو دوه ډوله ارزښتونه تر مطالعې لاندي نیول کیږي چې په لاندي ډول دي: دپیسو داخلی ارزښت او د پیسو بهرنی ارزښت چې په خپل نوبت سره دغه ارزښتونه په نورو ارزښتونو باندي ویشي:

۱. د پیسو اسمي ارزښت

۲. د پیسو حقیقي ارزښت

۳. د پیسو ذاتي ارزښت

۴. د پیسو اعتباري ارزښت

۵. د پیسو داخلي ارزښت

۶. د پیسو بهرنی ارزښت

**۱. د پیســو اســمي ارزښت:** دا له هغه ارزښت څخه عبارت دی چې د پیسو د نوم بیانوونکي دی لکه ۱۰-۲۰-۳۰ افغانۍ چې د طلا د مقدار څرگندونه کوي او پیسو ته د مقابل جنس په وړاندي د تبادلې وړتیا یا ځواک ورکوي.

**۲. د پیســو حقیقي ارزښت:** دا له هغه ارزښــت څخه عبارت دی چې د پیسو د جذب د قدرت څرگندونه کوي یانې(یعنی) په هره اندازه چې د جنس په مقابل کی د پیسو د جذب قدرت زیات وي، په هماغه اندازه د لوړ حقیقي ارزښت لرونکي دي چې د پیسو د دغه حقیقي ارزښت کموالی او زیاتوالي د یوه هېواد د تادیاتو په بیلانس پوري اړه لري. د یوه هېواد د تادیاتو له بیلانس څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقصد د هغه هیواد د صادراتو او وارداتو مطالعه ده  او په هره اندازه چې د یوه هیواد  واردات زیات وي په هماغه اندازه یې د شیانو او خدمتونو په مقابل کې د پیسو د جذب قدرت زیات وي.

**۳. د پیســو ذاتي ارزښــت:** د اله هغه ارزښت څخه عبارت دی چې له پیسو څخه  د انکار په ترڅ کې هم خپل ســاتل کیدی  شــی  چې دغه پیښه د  ذاتي ارزښت څرګندونه کوي  او په توکو باندي د تبادلې وړتیا لري.

**۴. د پیســو اعتباري ارزښت :** اعتباري ارزښت له هغه ارزښت څخه عبارت دي  چې پیسې یې  د یوې معیني ســاحې په حدودو کې  لري. دغه حقیقت د دولت د شــتون نمایندګي کوي چې د اړتیا په ترڅ کې د نورو هیوادونو په اسعارو باندي هم تبادله کیدی شي.

**۵. داخلی ارزښت :** د پیسو داخلي ارزښت کولای شو له دوو لوریو تر مطالعې لاندي ونیسو.

الف: د عرضه شویو پیسو مجموعه
ب: دتوکو مجموعی مقدار.

د ورته ارزښت د تثبیت په برخه کې مجبوریو د ټولو توکو د مقدار په مقابل کې د ټولو پیسو مقدار وضع کړو او له هغه څخه  د  پیســو د ارزښــت څرنګوالی اســتخراج کړو.  دا پیښه په ډاګه کوي  چې  د پیســو د داخلي ارز شــت د تثبیت په برخه کې یوازي د پیســو مجموعي مقدار نشي کولای موږ ته قناعت راکړي ، ځکه دا د توکو د مجموعي مقدار څرنګوالی دی چې  د پیسو د ټول ټال مقدار په وړاندي د  خپل ځان ارزښت جوړوي

ټول ټال قاعده دا ده چې  د پیسو ارزښت له قیمت سره معکوساً متناسب دي یانې(یعنې) که چیرته د پیسو ارزښت زیاتوالی وموي، قیمتونه کښته کیږي او بر عکس که چیرته  د پیسو ارزښت نزول وکړي ، د توکو  قیمتونه لوړوالی مومي.

کــه چیرتــه  ټــول ټال مقدار په m د دوران سرعت په v د قیمتونو ســطحه پــه  p  او د توکو مقدار په t سره قبول کړو، په دې ترڅ کې د قیمتونو د نرخ یا ســطح ســاده فورمول تر لاسه کولای شــو، پداسې ډول چې m.v=pt و پیژنو چې m  له p.t/v سره مســاوي کیږي .  که چیرته و غواړو چې د قیمتونو د نرخ فورمول تر لاسه کړو، کولای شو له یاد شوي فورمول څخه یې په ساده توګه اســتخراج کړو چې  له p=m.v/t څخه عبارت دی، دغه فورمول په حقیقت کې د پیســو دتیوري د اغاز فورمول دی چې وروسته په مفصله توګه ورباندي بحث کوو.

**۶. د پیسو خارجې ارززښت:** دغه ارزښت د داخلي ارزښت په خلاف دی چې پشتیوانه پکې مدنظر نه نیوله کېږي خو د پیســو د خارجي ارزښــت په برخه کې پشــتیوانه مدنظر نیول کېږي. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترتیب هر ډول پیسې له خپله ځانه طلایې ارزښت لري چې د پولې سیاست په اصطلاح کې ورته (اسمي ارزښت) ویل کیږي .

د پیسو اسمي ارزښت له هغه اندازه سرو زرو څخه عبارت دی چې یو هیواد یې د خپلې اقتصادي وړتیا او ځواک له مخي د پیسو په نړیوال وجهې صندوق یا I. M. F کې ثبت کوي..
د پسو طلایې تعریف په لاندي ډول دي.

د پیسو طلایې تعریف له هغه مقدرا طلا څخه عبارت دی چې په I. M. F کی ثبت شوي وي. په پورته بحث کې و ویل شول چې هر هیواد د خپلو اقتصادي سیاستونو او ځواک له مخي د خپلو پیسو ارزښت د ځانکړو موخو د لاسته راوړلو په موخه د طلا د مقدار په واسطه تثبیت کوي.

د نړۍ تر ټولو ارزښتمني پیسې ډالر دي يانې(یعنې) چې د یوه واحد طلایې تعریف یې ۰،۸۸۸۶۷۱ ګرام سره زر دي چې د افغاني پیسو په مقابل کې د ۰،۰۰۰۲۲۲ ګرامه طلایې تعریف لرونکي دي.

د تادیاتو بیلانس هم د پیسو د خارجې ارزښت په برخه کې قوي تاثیرات لري. که چیرته د تادیاتو بیلانس مثبت شکل ولري ، دا معنا پیاده کوی چې هیواد ته زیاته طلا او بهرنی اسعار د ننه شویدي او د هغوی په واسطه دپیسو داخلي ارزښت تقویه شویدی او بر عکس دهغې دا معنا ورکوی چې ګواکي له هیواد نه په زیاته پیمانه سره زر او باندني اسعار وتلی دي او یا کیدی شي دغه حالت پآنګي اچوني ته د زمینې برابریدلو په معنا واخیستله شي.

**۵-۳ د پیسو د مقدار له مخې د هغوی د ارزښت د تثبیت میتود.**

لکه مخکې چې هم ورنه یادونه وشوه چې m.v=pt دی،چې په دې ځای کې m د پیسو له مقدرا sv پیسو د دوران له سرعت، p د تولید شویو شیانو له قیمت او T د شیانو له مقدرا څخه عبارت دي. که و غواړو د M له مخي د پیسو ارزښت تثبیت کړو، د پیسو د دوران د ثبات په ترڅ کې لرلای شو چې M=P.T همدا شان پایله تر لاسه کوو چې ارزښتونه او قیمتونه یو له بل سره معکوساً متناسب دي .
د ریاضې له مخې کولای شو دغه موضوع په لاندي ډول ولیکو.
P=M/T د دې لپاره چې پوه شو V=T/M.

د دې لپاره چې قېمتونه او ارزښتونه یو تر بله معکوسه اړیکه لري ، نو اوس که چیرته د پیسو ټول ټال مقدرا یعني M د Mo په اندازه زیاتوالی وکړي د پیسو په مقدار کې د ارزښت کوم ډول بدلون منځته راځي ، وګورئ چې د د ریاضې له مخې څه ډول تصور کېږي.

۱ . ............To/Mo=V۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲.........Vt=To/Mo+ M

که چیرته له دوهم فرمول څخه لمړنی فرمول تفریق کړو لرلای شو چې

که =( V= Vt- Vo =To/Mo+ M –To/Mo=To-Mo-To(Mo+ M)/ Mo( Mo+ M
(To*Mo-To*Mo-To* M/ Mo(Mo+ M

بناء لرلای شو چې ۳ .........(v = - To* M /Mo( Mo+ M

د موضوع د وضاحت په موخه لاندي مثال ته پام وکړئ:

**مثلاً:** د پیسو مجموعي مقدار ۲۰۰ ملیارده او دهغوی په مقابل کي د شیانو مقدرا ۲۰۰ ملیارده دی، نو که چیرت، د پیسو مجموعي مقدرا د ۲۰ ملیارد په اندازه زیات شي ، د ارزښت بدلون به د فرمول مطابق په لاندي ډول وي:

(M +M۰)M / M۰ *V = -T۰

V -۲۰۰*۲۰~ ۲۰۰ (۲۰۰ +۲۰) = -۴۰۰۰~ ۴۴۰۰۰ او که وغواړو فیصدي يې تر لاسه کړو ، نو لرلای شو چې -۹. ۰۹٪

دپیسو له ارزښت سره په تړاو له پورتني مثال څخه د اپآیله تر لاسه کيږي چې د توکو په مورد کې د پیسو د دوران سرعت ۹. -۰۹٪- دی. د منفې حالت در لودل د دې ښودنه کوي چې د تولید شویو توکو د دوران سرعت ۱۰۰٪ دی او -۹. ۰۹٪ د دې ښودنه کوي چې د ۲۰۰ ملیارد افغانیو په مقدرا له ۱۰۰٪ تولید شویو شیانو څخه -۹. ۰۹٪ شیانو ته دوران نشي ورکولای اویوازي ۲۰۰ ملیارده افغانۍ کولای شي ۰. ۹۱٪ تولید شویو شیانو ته دوران ورکړي.

نو نتیجه تر لاسه کوو چې زموږ پیسې دخارجې اسعارو په مقابل کي کم ارزښت لري او د خارجې اسعارو په مقابل کي د هغوی ښکته والی په بازار کي دقیمتونو د ودې څرګندونه کوي.

په دریم نمبر فرمول کي د پیسو د لیږوالي په ترڅ کي برعکس مطلب لیدل کیږي او مثبت حالت تر لاسه کیږي او ټول پورتني مطالب خپل ځانته معکوس شکل اختیاروي .

**۳-۶ د پیسو د مقدار په اړه د پوهانو نظرونه:**

**د پیسو د مقدار تیوري:** د پیسو د مقدار تیوري په لومړی سر کې د مرکانتلیستي مکتب د لاروي ،فرانسوي پوه J. boden له لوري منځته راغله خو کلاسیک امریکایې او انګلسي پوهان هر یو فیشر او دیویډ ریکاردو د پیسو د مقدار د تیوري اصلي بنسټ ایښودونکي ګڼل کیږي.

د ډیوید ریکارډو نظریات: ډیوید ریکارډو د پیسو د مقدرا د تیوري بنسټ ایښودونکی او د کلاسیک مکتب مشهور پوهان ګڼل کیږي. هغه عقیده درلوده چې پیسې باید سل فیصده د طلا پشتیوانه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه په عقیده  پیســې یوازې د تبادلې وســیله دي  او له دې پرته یې د پیســو بله دنده په رسمیت نه پیژندله ، د ریکارډو په آند د قیمتونو لوړوالی او ټیټوالی چې په مجموع کي  د پیسو د مقدار د بدلون له امله منځته راځي  یانې قیمتونه د پیســو د تغیر تابع دي. ریکاردو د لومړي ځل لپاره د M=P.T  په ډول د پیســو د مقدار فرمول منځته راوړ   او د همدې فرمول په مرســته یې وکړای شــول د قیمتونو فرمول هم ترلاســه کړي یانې P= M/T . په دې صورت کي ریکاردو د قیمتونو دســطح د ثبات په موخه د پیســو د ټول ټال مقدرا په واســطه له نورو ټولو عواملو څخه صرف نظر وکړ او پورتنی فرمول یې د ټولو پوښتنو حل و باله چې پورتنی فرمول  د نړیوال تجارت پــه ډګــر کي   د هیوادونو تر منځ هم صدق کوي . پــه دې ترتیب  د هیواد په داخل کي د طلا د زیاتوالي په ترڅ کې  د توکو په مقابل کې قیمتونه کمیږي او په نتیجه کې یې صادرات لوړیږي ، او بهرنیان په ارزانه توګه توکي تر لاسه کوي ، برعکس که چیرته په هیواد کې د توکو قېمتونه لوړ شي نو دغه پیښه واردات تشویق کوي او بهرنیان په لوړ نرخ سره په هېواد باندې توکي پلورلای شي. دغه پېښه تر هغه وخته زیاتوالی مومي تر څو چې صاردات ورو ، وروصعودي سیر او واردات ورو ، ورو نزولی سیر خپل کړي تر څو د تعادل  نقطه منځته راشي.

پــه دې توګــه لیدل کیږي چې د وراداتو د زیاتوالی په تــرڅ کي له بهرنیو هیوادو څخه هیواد تــه زیــات توکي راوړل کیږي او پــه پایله کي یې صادرات کمیژي او هیواد تــه په کمه اندازه طلا وراديژي. دغه پیښه د دې لامل ګرزي تر څو د تعادل حالت له منځه ولاړ شي ، د عدم تعادل دغه حالــت هغه وخــت منځته راځي  چې صادرات زیاتوالی وکــړي او د صادراتو کموالی د تعادل تر نقطې پوري دوام کوي.

**د فیــشر نظریــات (۱۸۷۰- ۱۹۴۷ ):** امریکایې پوهان فیشر  د (د پیســو د رانیولو قدرت) په نامه خپل کتاب کي د ریکاردو نظریات بشــپړ کړل  او هغه د پیســو د مقدار د تیوري  د بشپړ فورمول د وړانــدې کوونکي په صفت و پیژندل شــو، خو تر دغــه پوه د مخه د  J. Stmill په نامه یوه  بل فرانســوي عالم  چې د ډیویډریکارډو له طرفدارانو او د سیاسي اقتصاد د اصولو په نامه دیوه کتاب لیکوال هم دی د  ( ۱۸۰۶- ۱۸۷۳) تر منځ یې ژوند درلود د پیسو د مقدرا د تیوري په فرمول باندې یــې کار کړیدی. Stmill عقیده درلوده چې د پیســو د ټول ټال مقدار تر څنګه د پیســو د دوران سرعت هم اساسي رول لري. د پیسو د دروان سرعت  د اقتصادي او حقوقې واحدونو تر منځ  د یو واحد پیسو د ګردش له دفعاتو څخه عبارت دی.

فیشر د اســتیمل له نظریاتو څخه په اســتفادې سره په دې باوري شو چې د پیسو له ټول ټال مقــدرا سره پــه څنګ کي  په فزیکی ډول د چیک په ډول دفتري یا تحریري پیسي هم د پیســو په ټول ټال مقدرا باندې تاثیر اچوي.  نوموړی په دې عقیده شو چې دفتري پیسې د فزیکي پیسو په څیر د دوران د سرعت لرونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیشر د پیسو ټول ټال مقدار په M، د پیسو د دوران سرعت په V، د تحریري پیسو مقدار په M̃ او د پیسو د دوران سرعت په ṽ سره وښود چې په مجموع کې یې د پیسو د مقدرا د تیوري تر ټولو بشپړ فرمول منځته راوړ.

یعنی $MV+MV= P*T$ ......... ١ .

په دې ځای کې دوه نقطې خورا اهمیت لري

د پیسو د دوران سرعت ثابت فرض شویدی.

تحریري پیسې د حقیقې پیسو په اساس ایجاد کیږي. دفتري پیسې حقیقې پیسې دي. نو ویل کیږي چې تحریري پیسې او د پیسو د دوران د سرعت ثابت ساتل د پیسو د مقدار د تیوری د تفکر اساسي برخي دي . د موضوع د وضاحت په موخه لاندي مثال ته پام وکړئ:

فرضاً که د یوه هېواد تجارت د دوران له مخي ٥٠٠ افغانۍ وي او د ورته دوران د ساتلو په موخه د اړوند تجارت شرکت د ٥٠ میلیونه افغانیو په ســاتلو باندي مجبور وي ، اوس د یاد شــوي شرکت د تجارت د پیسو دوران دوه چنده یعنې ١٠٠ میلیونه افغانۍ تثبیت کیږي. د پیسو د مقدار د تیوري د اصل له قبلولو سره ، باید د اړوند شرکت د تجارت د پیسو د دوران ساتلو په موخه ١٠٠ میلیونه افغانۍ یانې ١٠٪ قبولي شي ، لیدل کیږي چې د پیسو د دوران د سرعت د ثبات له ډاډ سره سره کله چې د تجارتې شرکت د پیســو دوران زیاتوالې وکړي، د ســاتل شویو پیسو مقدار هم دوه چنده یانې له ٥٠ میلیون څخه ١٠٠میلیونو ته زیاتوالی مومي. همدا شان لیدل کیږي چې د دفتري پیسو ټول ټال مقدار هم فرض شوی دی چې له حقیقې پیسو سره ١٠٠٪ متناسب زیاتوالی کوي.

د پیســو د مقدرا تیوری هم د نورو هغو په څیر د پوهانو تر زیاتو نیوکو لاندې راغلي چې دغــه نیوکې یا انتقادات پــه ځانګړی توګه د( البرت افتاؤن ،او ناګاروه ) په نامه د دوو فرانســوي علماؤ له لوري مطرح شویدي.

**د پیسو د مقدار په تیوري باندې نیوکې:**

**١.** د پیسو د مقدرا په تیوري باندي د افتالیون نیوکې له دوو لوریو مطرح شوېدي.

الف: کولای شو د پیسو مقدار د هغوی د جوړښت له مخې مطالعه کړو.

ب: هغه عوامل چې په خپلواکه توګه له وړاندي شوي فرمول څخه عمل کوي.

**الف:** افتالیون عقیده درلوده چې د دوران قبول شــوي سرعت په ثابته توګه د پیســو دمقدار د تیوري له لوري غیر منطقي بریښــي. دی ددغې نیوکي د ثبوت لپاره له پخواني مثال څخه یادونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که تجارتي دوران ۱۰۰٪ زیاتوالي وکړي ، نشــو کولای قناعت وکړو چې د پیســو سرعت هم د تجارتې دوران د زیاتوالي په څیر زیاتوالی کړیده. په پخواني مثال کي چې د پیسو د دوران سرعت ۱۰ فرض شــوی وو، د تجارتي دوران له زیاتوالي سره ممکن د پیســو د دوران سرعت د ۱۵ او یا ۱۹ عدد وښیې، له همدې کبله نشو کولای د فیشر له لوري د وړاندي شوي فرمول MV+MV=P*T په صحت باندي باور ولرو.

ب: د پیسو ټول ټال مقدار یانې حقیقي او دفتري پیسې کولای شي د پیسو د مقدار د تیوري په څیر عمل وکړي ، ځکه د دې نظر خلاف چې تصور یې کاوه، دفتري پیســې له فزیکي پیســو سره ۱۰۰ ٪ متناسبې دي، منځته راځي ، عمل کوي او دفتري پیسې کولای شي د فزیکي پیسو په پرتله زیاتوالی یا کموالی وکړي. دغه امر هم په ډاګه کوي چې د پیســو د مقدار ورکولو شــوي فرمول د کار وړ ندي.

د انتالیون له نظره مســتقل عوامل هم کولای شــی د پیســو د مقدار په وړاندي شوي فرمول باندي اثرات وغورځوي. د مثال په توګه د ځیني پدېدو اثرات کولایشی په لومړي پړاو کي قېمتونو ته بدلون ورکړي ، مثلاً د نرخونو د لوړوالي په ترځ کي د پیسو د ټول ټال مقدار زیاتوالی ایجابیژي ، پــه ۱۳۵۷ ام ه ش، کال کــي زموږ په هیواد کي هم ورته پدېده منځته راغلي وه یانې په دې کال کې د جګړي د را منځته کیدلو له کبله د ښار اړیکي وشلیدې او قیمتونو لوړوالی وموند، دولت ددې لپاره چې د د قیمتونو د لوړوالي په تناســب د معاش د ســطح له نزول څخه مخنیوی وکړي ، په لومړی سر کي د نظامي منصوبینو معاشات لوړ کړل او وروسته یې د دولت د کارمندانو مزد او معاش ته زیاتوالی ورکړ. له مثال څخه په ډاګه کیږي چې په لومړی پړاو کي پرته لدې چې په لومړی پړاو کې پرته له هغه چې په جنګ کې ده پیســو په مجموعې کې ډېر توپیر راشي قیمتونه پــه جنک کي چې خپله یو ټولنیــزه پدیده ده بدلون یا توپیر نه منونکــی دي. او دقیم (نرخونو) دســطحې لوړوالی د دې باعث شــو چې د پیسو ټول ټال مقدار زیات شي. چې په پایله کې دپیسو د تیوری په اندازه برعکس نسبت راشي.

د ناګارو نظریات: ناګارو په خپلو نظریاتو کي د کینز نظریات خپل اساس ګرځولي او مخالفه عقیده لري چې بازار ته نشر شــوي ټولي پیســې سره اوړي، را اوړي او په مقابل کي یې تولیدات هم ورته لوبه کوي، بلکي په دې عقیده وه چې ټولي پیسې د دولت له لوري ساتل کیږي او یا زیرمه کیږي ، د مثال په توګه که چیرته د پیسو ټول ټال مقدار ۲۰۰ میلیونه فرض کړو، ۱۸۰ میلیونه یې بازار ته وړاندي کیږي او پاتي ۲۰ میلیونه یې زخیره کیږي، په مقابل کي یې توکي هم له ورته قانون څخه برخورداره دي له همدې کبله ناګارو د پایلې اصل ته رسیږي.

– کله چې د پیسو ټول ټال مقدار بدلون وکړي او د هغه متناسب د توکو ټول ټال مقدار هم بدلون وکړي، د قیمت په سطحه کي کوم بدلون نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

– که چیره د پیسو په ټول ټال مقدار کی زیاتوالی ولیدل شي ، زیات شوی مقدار بازارته نه واردیږي ، نو بیا هم د قیمتونو په سطحه کي بدلون نه لیدل کیږي.

– د توکــو د بدلــون د ثبات او پیســو د ټول ټال مقدار د زیاتوالي پــه ترڅ کي د قیمتونو سطحه بدلون کولای شي.

**ددریم څپرکی دمطالبو لنډیز :**

د بانکنوټونــو تکامــل، له تکنالوژي او تخنیک څخه د تبادلې او تجارت په ډګر کي اســتفاده کول، د پیسو د دوران سرعت، له اقتصادي عواملو سره د هغوی تړاو، په دې اړه د علماؤ نظریات او داسي نور د ددې څپرکی له مهمو موضوعاتو څخه ګڼل کیږي.

همدا شان د څپرکي په اوږدو کي د ځیني مفاهیمو له مطالعې نه و پوهیدو چې په ټولنه کي د پیسو د مقدار زیاتوالی یا کموالي په نرخونو ، مزد او معاش باندي څه اغیز شیندي.

همدا شــان یادونه وشــوه چې د تکنالوژي په برخه کی د بشر لاســته راوړني خورا زیاتي او پراخي دي نو نه یوازي په خدماتو کی ترې استفاده شویده بلکي په اقتصادي ساحاتو کي هم ګټه تري اخیستل شویده.

د یوه بیل نظر په توګه مو مطالعه کړه، په هره اندازه چې د پیسو د دوران سرعت زیات وي په هماغه اندازه يې د جذب قدرت زیاتیژي او د سرمایې د جوړښــت ســبب ګرځي چې د سرمایې جوړښت په خپل سر په ټولنه کی د عرضې او تقاضا دزیاتوالي لامل ګرزي چې دغه اقتصادي عوامل د ټولني په اقتصادي ، اجتماعي او سیاسي ساحاتو باندي هر اړخیز تاثیرات لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د دریم څپرکی پوښتني:**

۱. څو ډوله الکترونیکي پیسې پیژنئ؟

۲ .د پیســو د ارزښــت د تثبیت په برخه کي څه معلومات لرئ، لــه اقتصادي لحاضه یې واضیح کړئ؟

۳ .د پیسو د حجم په برخه کی څه معلومات لرئ؟

۴ .که چیرته د پیســو مقدار زیاتوالی وکړي ، دفورمول له مخي یې په ټولنه کي د دوران سرعت تثبیت کړئ؟

۵ .د پیسو د دوران د سرعت زیاتوالی او کموالی سره مقایسه کړئ؟

۶ .د پیسو د داخلي او خارجې ارزښت په هکله معلومات ورکړئ؟

۷ .د پیسو رسمي ارزښت بیان کړئ؟

۸ .دپیسو حقیقې ارزښت واضیح کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## انفلاسیون او مالي با زارونه

**ټولیزه موخه:**
د انفلاسیون ماهیت او مفهوم او تعریف

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې له محصلینو څخه هیله کیږي چې:

۱. انفلاسیون وپیژني
۲. د انفلاسیون ډولونه او په ټولنه کې د هغه مثبت او منفي تاثیرات توضیح کړای شي.
۳. په اقتصادي معاملاتو کې د انفلاسیون تاثیر و پیژني
۴. د انفلاسیون ډولونه واضیح کړای شي.

د څلــورم څپرکی په لومړیو کې غوره ده چې د انفلاســیون پــه اړه بحث وکړو او د معنا او مفهوم له مخې مطالعه شي. د مفهوم او معنا له مخې د انفلاسیون د مطالعې اصطلاح د قیمت او ارزښــت له نقطه نظره د پوهانو له لوري د انفلاسیون د مطالعې مفهوم پیاده کوي په داسې حال کې چې ځیني نور پوهان انفلاســیون د هغه د ځــواک او قدرت له دیدګاه څخه مطالعه کوي، په دې معنا چې انفلاســیون د اقتصادي توکو د قیمت د لوړوالي او پیســو د ارزښت د کموالي په توګه پیژندل کیږي.

لکه څنګه چې پوهېږو د قېمتونو لوړوالی د انفلاسیوني خصوصیاتو له ډلي څخه شمیرل کیږي، په عین حال کې غوره ده چې له یو لړ اقتصادي اصطلاحاتو څخه اســتقاده وشي چې له عرضې او تقاضا سره په تړاو د انفلاســیون واقعې معنا افاده کوي یانې که چیرته د تقاضا تر کچې زیاتي پیسې عرضه شي انفلاسیوني حالت منځته راځي.

انفلاســیون د مجموعي عرضې او تقاضا تر منځ د تناســب له داسي نشتوالي څخه عبارت دی چې د عرضې مقدار د هغې د تقاضا په پرتله زیات وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کــه چیرتــه د تعــادل دغه الغا د مجموعي تقاضا په نفع وي نو د پیســو د ارزښــت د کموالي او قیمتونو د لوړوالي ، بیکاري د زیاتوالي او داسي نورو په څیرد انفلاسیوني خصوصیات ایجادوي.
دا چې د انفلاســیون محل او مکان ولټوو چې پــه لومړی قدم کي په کومو محلاتو او ځایونو کي بــروز کوي او وروســته په څه ډول ټول اقتصاد په بر کې نیــسي ، دغه محلات او ځایونه د مالې بازارونو تر عنوان لاندي مطالعه کولای شــو ، ځکه انفلاســیوني حــرکات له همدې ځآی څخه پیل کیږي. مالې بازارونو په عمده توګه لنډمهاله ګڼل کیږي ځکه دا ډول بازارونه د پیســو د ارزښــت د بدلون له مخي د نوســان په حالت کي دي. نو په دې اســاس دغه ډول بازارونه د ارزښــت له تبادلــې سره پــه تړاو له ۲۴ ســاعتونو څخه، تر ۳ میاشــتو پوري تعین شــویدي چې دغه تغیرات د مــزد او معاشــاتو په ســاحه ، د بودجې کسر او لنډ مهاله خریداري پــه بر کې نیسي چې په لږ وخت کي زیاتې ســتونزې منځته راوړی شي او د مالي بازارونو په واســطه له منځه وړل کیږي، او تولیدي موسســات د تولید له مخې تر زیات تاثیر لاندي راولي ، ځکه دغه موسســات همېشه له مستقیمې او غیر مستقیمې تبادلې سره سرو کار لري او د دغو تبادلاتو ارزښت همېشه د پیسو له مخېسنجول کیږي او په دې اساس د اقتصادي نوساناتو د بروز سبب ګر زي چې همدغه اقتصادي نوســانات د بودجې د کسر لامل هم ګرځي او د مزد او معاشــاتو په سطحه باندې مستقیم تاثیر لري ، حتي د افرادو د حقیقي او اسمي عاید د بدلون لامل ګرځیدی شي.
د پرانســوا پیرو په نامه فرانســوي عالم مالې بازارونه دا ډول تعریف کوي: مالي بازار له هغه ځای څخه عبارت دی چې اقتصادي واحدونه پکښې د قېمتي او راقو په څېر د ځینې اقتصادي ارزښتونو په مقابل کي معامله کیږي.

**د انفلاسیون دمخنیوي لاري چاري.**

**د انفلاسیون ضد سیاستونه په دریو برخو ویشل شویدي :**

۱- پولي سیاستونه
۲- مالی سیاستونه
۳- مستقیم کنترول

**۱. پولی سیاستونه :** د دولت له لوري د بانکي سود د بیو د لوړوالي او د ازاد بازار د عملیاتو له لاري د پیســو د عرضې مهار کول او کنترول د انفلاســیون د مخنیوي غوره چاره ګڼل کیږي. لدې لاري د پیســو عرضه کموالی مومي . که چیرته دولت د قرضې د اوراقو په پلور باندي لاس پوري کــړي ، د تجــارتي بانکونو نغدې زیرمي کموالی مومي ،ځکه د تجــارتي بانکونو له لاري په تولیدې ســاحاتو کي کموالی راځي . که چیرته دولت د ازاد بازار د عملیاتو له لاري اوراق و پلوري ، دغه کړنــه هــم ورته اثرات په ځای پریږدي . د سرمایه ګذاري د ګټــي د نرخ د زیاتوالي له لارې هم د پیســو عرضه کمېدلای شي چې د ټولي تقاضا حد را کښــته کوي . د ګټې د نرخ زیاتوالی او د پیسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عرضې کموالی عملاً پولي تقاضا کموي  خو د سرعت او میزان  اثرات يې نه پيژندل کيږي.

په انګلســـتان کي له دوهم نړيوال جنګ نه وروســـته  د پولې سياستونو دوره  تر ټاکلي موخې هم زياته طولاني شــوه   او اړوند پولي سياســـتونه په اوږده موده کي موفق  شول .  څنګه چې د پولې عرضې تغيرات نشي کولای له کافي سرعت او لنډ مهاله نوساناتو سره  په اقتصاد کي عمل وکړي ، په دې اساس طولاني يا اوږده موده ورته مناسبه ده.

**۲- مالي سياستونه :** که فرض کړو چې يوازی تقاضا  زياته شويده چې انفلاسيون يې منځته راوړي نو د تقاضا د کموالي په واسطه هم انفلاسيون مهارا و کنترول کولای شو. مجموعي تقاضا د دولتي تقاضا او خصوصي برخې له مخارجو څخه جوړې شــوې دي، شـــديد انفلاسيون  هغه مهال منځته راځي چې دولتي مخارج د پيســـو د ايجاد په واســـطه تامين شي نو په دې اســـاس ويل کيږي چې د دولت متعادله بودجه په دې برخه کي د دولت له غوره سياســـتونو څخه شـــميرل کيږي. د دې فرضيــې لامــل دا دې  چې په عمومي توګه د دولت د بودجې کسر د انفلاســـيون معنا ورکوي او د بودجې کسر د پيسو د عرضې په واسطه تامين کيږي.

دوهمه مسله دا دی چې په عمومي توګه د دولت مخارج غير مولد دي  او په بدل کي يې کوم عوايد نه تر لاسه کيږي، مثلاً د نظامي مخارجو په مقابل کي کوم پولي درآمد نه تر لاسه کيږي، نو په دې اساس  د قيمتونو زياتوالي   د انفلاسيو قاصد ګڼل کيږي  چې د  د دفاعې لګښتونو  په څير د غير مولده لګښـــتونو د کموالي  وړانديز کوي.  د ورته لګښـــتونو زياتوالي د قيمتونو د ثبات  هلې ځلــې لــه خنډ سره مخ کوي  خو له بله لوري د دولتي مخارجو کموالی هم نه شـــونی کيږي  ، په دې برسيره  د زده کړې، روغتيايې پرمختګ او داسي نورو په څير د دولت زيات مخارج په ورځني اقتصاد کي ضروري مخارج ګڼل کيږي.

په کلي توګه دولتي مخارج په ټولنه کي د اشتغال د حفظ په برخه کي خورا مهم رول لري. په دې برسيره  د دولتي لګښتونو د کنترول تر څنګ  ټولنيز او سياسي مسايل هم په دې برخه کي مهم رول لري چې په دې توګه د مالياتو زياتوالی  د مجموعي تقاضا د کموالي په برخه کي يوه مهمه وسيله ګڼل کيږي ، خو دولتي لګښت يوازي له مالياتو څخه نشي تامين کيدی ، که چيرته د دولت اضافې مخارج د مالياتو په واسطه تامين کيدی شی  نو پکار دی چې دوو پوښتنو ته ځواب و ويل شي.

لومړی دا چې بايد تر کومه بريده د خصوصي برخې لګښت او تر کومه بريده د خصوصي برخي پانګونه  کموالی و مومي او د دې موخي لپاره له کوم روش او ميتود څخه استفاده وشي.

پــه درآمد باندي ماليات وضع کول او په انتقــالي پرداختونو کي بدلون  را منځته کول تر يوه حده د خود کار متعادل رول لوبولای شي ، د قيمت او مالياتو د زياتوالي په واسطه  د درآمد لويه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

برداشت کیږي ، خو اتوماتیک متعادل په صنعتي اقتصاد کي د تقاضا د نوساناتو مقابله نشي کولای او نشي کولای اضافې تقاضا او د انفلاسیون مشکلات له منځه یوسي خو مسله بیا هم دومره ساده نه ده د نرخونو اومالیاتو زیاتوالی د کار او فعالیت انګیزه تر تاثیر لاندې راولي او په اوږده مهال کې د اقتصادي ودې نرخ کموي . د لګښت د کموالي لپاره کولای شو له غیر مستقیمو مالیاتو څخه هم اســتفاده وکړو. په شــیانو باندی د مالیاتو د وضع کولو په صورت کي ممکن د اقتصاد په یوه ځآنګړي برخه کي هغه اضافې تقاضا محدوده کړل شي چې محدود کېدل یې اړین وي.

**۳-د قیمت او درآمد د کنټرول مستقیم سیاست:**

کله چې مالي پولي سیاستونه و نکړای شي په موثره توګه د انفلاسیون مخنیوی وکړي ، ځیني دولتونه له ورته سیاستونو څخه استفاده دکوي .

د دې سیاســت لــه مخي دولــت موخه ټاکي چې پــه اقتصاد کي د مزد زیاتوالــی نشي کولای تر ګټه زیات شي، په دې اســاس د مزد کنټرول هم کولای شي د تولید د لګښــت د کنټرول له لاري د انفلاســیون له بدو اثراتو څخه مخنیوی وکــړي او د کارګرانو د مزد د کنټرول له لاري د توکو لپاره ثابت نرخ وساتي.

**د انفلاسیون د منځته راتګ علتونه او ډولونه:**

دا چې د پیســو د زیاتې عرضې له کبله د توکو د قیمتونو لوړوالی د انفلاسیون مفهوم افاده کوي ، نو په ټولنه کی د پیسو دزیاتوالي علتونه په لاندې ډول دي:

۱. په هېواد کې جګړه
۲. د تولید شویو توکیو به مورد کې د توکو د تقاضا زیاتوالی
۳. د غیر اقتصادي پانګونې منځته راوړل
۴. د تادیایو د بیلانس له منځه تلل
۵. د هیواد له پولو نه ها خوا د هیواد د اتباعو فعالیت
۶. د زخیرې په توګه له خلکو سره د مبالغو باقي پاتې کیدل.

**۱- دجګــړي له کبله دهیواد داقتصادي، ســیاسي اوټولنیزي اوضاع بدلون :** دا چې جګړه پخپله په اقتصادي ، ســیاسي او ټولنیزه ســاحه کي یوه بده پدیده ګڼل کیږي چې په پآیله کي یې ټول ګټور نهادونه له منځه ځي او وضعیت په پشــپړه توګه ګډوډیږي او بلاخیره د دولت مصارف په هره برخه کي زیاتیژي او اقتصادي نهادونه یې په ټپه دریږي . د جګړي په ترڅ کي دولت مجبوریږي چې د خپلو خســاراتو د جبران په موخه پیســې نشر کړي چې په پآیله کي یې قیمتونه لوړیږي او په ټولنه کي د انفلاســیون اثرات منځته راځي او کوم کســان چې ثابت عواید لري، له ورته اوضاع څخه متاثره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲. د تولید شوو توکو په وړاندې د هغوی د تقاضا زیاتوالی:** دغه عوامل له دوو لارو په ټولنه کی د انفلاسیون لامل ګرځي . الف: د دولت د مصارفو د زیاتوالي له کبله چې د بودجې له کسر سره مخ کیدل او له همدې کبله د نویو پیسو نشر کیدلو ته اړیستل چې د دغو نشر شویو پیسو له کبله قیمتونه لوړیږي. له بله لوری د دولت د لګښتونو د لوړوالي له کبله هم په ټولنه کي زیاتې پیسې خورېږي او د پیسو د ارزښت د رالوېدلو لامل ګرځي چې په پایله کې یې انفلاسیون منځته راځي.

**۳. په اقتصادي او غیر اقتصادي ساحاتو کي پانګه اچونه:** په یوه ټولنه کي پانګونه په دوو ډولونو ترسره کیدلای شی چې یوه ته یې بشپړه او بل ته یې نیمګړی پآنګه اچونه ویل کیږي . بشپړ یا کامل شکل یې هغه دی چې د پانګونې له تر سره کولو وروسته له هغه مدرک څخه یو کټه او اقتصادي ګټې هم تر لاسه شي ، نیمګړي پانګونه هغه شکل ته ویل کیږي چې په استهلاکي ساحاتو کي تر سره شي چې د نوي تقاضا د را پورته کیدلو لامل ګرزي او په ټولنه کي د انفلاسیون اثرات را منځته کوي.

**۴. د تادیاتو د بیلانس له منځه تلل:** دتادیاتو له بیلانس څخه زموږ موخه په یوه هیواد کی د صادراتو او وارداتو تر منځ له تعادل یا انډول څخه عبارت ده. کله چې د صادراتواو وارداتو تر منځ توازن یا انډول له منځه ولاړ شي او د صادراتو په پرتله د هیواد د وراداتو کچه لوړه شي په دې ترڅ کي هیواد ته زیات اموال داخلیږي او د بهرنیو اسعارو په وړاندي کښته کیږي چې په ټولنه کي د انفلاسیون لامل ګرځي.

**۵. مهاجرتونه د انفلاسیون د عواملو په توګه :** یوه هیواد ته د مهاجرتونو کول هم دانفلاسیون له یو لړ عواملوڅخه ګڼل کیږي چې د هیواد امنیتې وضع او یا د اشتغال پدېده یا د کار نشتوالی یې مهم رول لري او یا پخپله د یوه هیواد اقتصادي وضع ده چې په ټولنه کي د مهاجرتونو لامل ګرځي. پخپله انسان د تولید او عاید ایجاد ګر ګڼل کیږي کله چې هغوی له مهاجرت څخه را ستانه شي په څنګ کي ټولني ته یوه اندازه پیسې هم ورسره راځي او د دزیاتوپیسو د عرضې لامل ګرځي او په ټولنه کي د انفلاسیوني اثراتو د ایجاد لامل ګرزي.

**۶. له خلکو سره اضافي پیسې:** له دې جملې څخه موخه دا دی کله چې بانکي فعالیتونه په سمه توګه ترسره کیږي او د خلکو په زړونو کي د بانکونو په وړاندي یو تضمین شتون ونلري، زیات خلک خپلې پیسې له خپل ځان سره ساتي او په بانکونو کي یې نه جمع کوي. او یا د ا چې د زېرمه شویو پیسو په مقابل کی ګټه او جوایز ونلري چې دغه پیښه هم دقیمتونو د لوړوالي سبب ګرزي او د قیمتونو لوړوالی پخپله د یوه انفلاسیونی حالت ښودونکی دی.

**د انفلاسیون ډولونه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د انفلا سیون ډولونه په لاندې ډول مطالعه کولای شو:**

**۱- د زیاتې تقاضا له کبله انفلاسیون یا (Excess Dumont Inflation):**

که چېرته د قېمتونو صعود یا لوړوالی داسې وي چې مجموعي تقاضا ته په ګړندۍ توګه زیاتوالی ورکړي ، د تولید مقدار هم زیاتوالی مومي. د کامل استخدام په ترڅ کې د تقاضا دغه ډول ګړندی زیاتوالی د انفلاسیون لامل ګرځي.

**۲- مضمن انفلاسیون (chronic Inflation):** دا هغه انفلالسیون ته ویل کیږي چې شدیداً عمیق وي او د حل لاره یې ستونزمنه وي.

**۳-د تمام شــد قیمت له کبله د انفلاســیون فشــارقیمت یا(Cost Push Inflation):** د تولید د عواملولوړوالی چې پایله یې د قیمتونو د لوړوالی لامل ګرزي.

**۴- اعتباری انفلاسیون (Credit Inflation):** دغه ډول انفلاسیون د بانکي سیستم یا نورو کریډیټي واحدونو له لوري د نامطلوب کریډیټ د زیاتوالی له کبله منځته راځي.

**۵- خود افزا انفلاســیون یا (Creeping Inflation):** دغه ډول انفلاسیون پخپله بهراني انفلاسیون منځته راوړي او د انفلاسیون د سرعت د زیاتوالي لامل ګرځي

**۶- د تقاضــا د فشــار لــه امله انفلاســیون یــا (Demund push Inflation):** عمــلا دغه ډول انفلاســیون د تقاضا د فشــار او نورو عواملو د ثبات له نظره مطالعه کیږي . په دې ترڅ کي یوازي په بازار باندي د تقاضا فشار مطرح دي.

**۷- د لګښتونو د زیاتوالي له کبله منځته راغلی انفلاسیون (Murk-UP Price in Flation ):** دغه ډول انفلاسیون بازار ته د عرضه کېدونکو تولیداتو د لګښتونو د زیاتوالي له کبله منځته راځي.

**۸- ازاد انفلاسیون ( Open Inflation):** دغه ډول انفلاسیون دا سي دی چې دولت په مستقیمه توګه د پانګونی د تشویق په موخه د یوه معین وخت لپاره څو فیصده انفلاسیوني نرخ قبول کړي

**۹- مارپیچی انفلاســیون یا (Cpiral in Flation):** د سود او ربحې د لوړو نرخونو، مزد، معاشاتو او نورو ټولو عوایدو د زیاتوالي له کبله په متناوب ډول د توکو د قیمتونو د لوړوالی لامل ګرځي.

انفلاسیون د هغه د سرعت له مخي: په دې برخه کي کولای شو دری ډوله انفلاسیونونه و پیژنو.

۱. مافوق انفلاسیون

۲. ګړندی انفلاسیون

۳. بطي یا ورو انفلاسیون

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱- مافوق انفلاسیون (Hyper Inflation):**

لدې ډول انفلاســیون څخه هغه مهال بحث کیږي چې د ارزښــتي تنزیل او قیمتونو د لوړوالي حــرکات د هغه د لوړې فیصدۍ له کبله ســنجش نکړای شي یانې د عایــد بدلون په داسي مرحله کي قرار ولري چې په بازار کی د پیسو ټول ټال مقدار ته هره لحظه د بدلون ورتیا ورکړای شي . د ۱۹۲۱-۱۹۲۳ کلونو تر منځ په المان کي د انفلاســیون ډول د ورته ډوله انفلاســیون له بیلګو څخه ګڼل کیږي . په دې کلونو کي په جرمني کي انفلاســیون ځانته داسي حالت غوره کړ چې د ورته حجم پیسو په بدل کي یوه ډوډۍ تبادله کېدله ، ځیني وخت د ورته انفلاسیون نرخ تر زر فیصده هم لوړیږي .

۲- ګړندي انفلاسیون یا (Trot inflation ):

له ګړندي انفلاســیون څخه مقصد دا دی چې د انفلاســین نرخ یې تر ۵٪ لوړ شي . دغه ډول انفلاســیون د مهــار کېدلو یا کنترول کېدلو وړتیا لري. د ورته انفلاســیون د مهــار کولو لپاره یو لړ حکومتــي تدابیــرو او اقداماتو تــه اړتیا لیدله کیږي، په داسي حال کي چې په مافوق انفلاســیوني حالت کي د دولت له لوري د هغه د مخنیوي په اړه کوم اقدامات شوني ندي.

هغــه هیوادونه چې د ۱۹۸۰-۱۹۹۰ کلونو تر منځ یې شــدید انفلاســیوني شرایط تجربه کړیدي د ارجنتاین،برازیــل او نیکاراګــوا په څیر د لاتیي امریکا له هیوادونو څخه عبارت دی چې د مخنیوي په اړه یې حکومتي تدابیر نیول شویدي ، خو په افغانستان کي د سیاسي قدرت د نشتوالي له کبله د ورته ډول انفلاسیون مخه و نه نیول شوه. د سریع انفلاسیون د نه مهار کیدلو په ترڅ کې د اقتصاد د فلج کیدلو ویره متصور کیدی شي.

**۳-بطي یا ورو انفلاسیون یا ( Creepinc Inflation ):**

پوهانو دغه ډول انفلاسیون په عمومي توګه له یوه څخه تر دریو فیصدو پوري تثبیت کړیدی . دغه ډول انفلاسیون د اقتصادي رشد د تیوري له مخې موثره وسیله ګڼل کیږي ، البته استدلال دا دی چــې کــه د پانګه اچوني لپاره د ګټي حد اقــل له یوه څخه تر درې فیصده پورې معیار تثبیت کړو، یقیناً چې پانګونه خپل ځانته صعودي حالت غوره کوي

**۱-وارداتی انفلاسیون:**

له وارداتي انفلاســیون څخه هغــه مهال خبرې کیږي چي داخلي بازارونه تــر ډیره ځایه له بهرنیو بازارونــو سره تــړاو ولري او د بهرنیو بازارونو د تولیدي موادو د تهیې او معرفې کېدلو د وســیلو حیثیت ولري.

**۲- زیربنایــی انفلاســیون (Infrastucture Inflation):** دغه ډول انفلاســیون هغه مهال منځته راځي چې د زیربینایې پروژي په پراخه کچه پکار ولویژي . د زیربینایې پروژې هغو پروژو ته ویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیـږي چې پـه اوږده مهال کې د عایداتي تاثیراتو خاصیت ولـري. دا په دې مانا دی چې په ورته پـروژو کې عایدات په ګړندۍ توګه زیاتیږي خـو وخت ته اړتیا وي تر څو ظرفیتونه بدلون وکړي. دغه ډول انفلاسیون په مخ په وده او پرمختللیو صنعتي هیوادونو کې په متفاوت ډول لیدل کیږي.

**۳- انفلاسـیون دپرداخت (ورکړې)له مجرأ څخه:** دغه ډول انفلاسـیون په عمومی توګه دپیسو د ټول ټال مقدار او لګښـت د څرنګوالي له مخي تر بحث لاندي نیول کیږي . دا په دې معنا چې د پیسو په ټول ټال مقدار کي تر بدلون د پرداختونو زیات بدلون د لګښت سطحې ته بدلون ورکوي او قیمتونه لوړوي او د پیسو د ارزښت کموالی لیدل کیږي. موږ پوهیږو چې د کورنۍ عایدات په دوو کته ګوریو باندي ویشل کیږي.

**الف: اسمی عاید:** د افرادو له هغه ډول عاید څخه عبارت دی چې په اسمي توګه مطرح وي خو د هغوی د خرید قدرت په نظر کې نه نیول کیږي.

**ب: حقیقی عاید:** په دې ترڅ کي د افرادو عاید د هغوی د خرید له قدرت سره په نظر کي نیول کیږي. په ډیرو ځایونوکي لیدل شوي چې د یوه هیواد د افرادو اسمي عاید د انفلاسیون په حالت کي زیاتیږي خو حقیقې عاید یې کمیږی . دغه مثال په افغانستان کي هم مشاهده کولای شو.

**۱-انفلاسیون دتولید له مجرأ څخه:**

دغه ډول انفلاسیون د تقاضا، د موادو د تهیې د لګښتونو او ذ تولید د عواملو د قیمت دلوړوالي له مخي مطالعه کیږي. بدې ترڅ کي د دریو توکو نومونه اخستلای شو لکه: مزد او معاش، د پانګې ګټه او وړاند وینه البته په هغه ترڅ کی چې د کار عامل دا تقاضا ولرلای شي.

**د انفلاسیون اغیزې:**

**۱- قیمتونه او د ژوند لګښـت:** انفلاسـیون او د قیمتونو د سـطحې لوړوالی د ژوند لګښـت ته زیاتوالـی ورکـوي او د خلکو د ژونـد معیار ټیټوي او د هغو کسـانو د رانیولو قدرت کموي چې درآمد یې د قیمتونو له سـطحې څخه کم وي او نشي کولای هغه شـیان او خدمتونه رانیسي چې پخوای رانیولای شوای.

**۲-د قیمتونو زیاتوالی او د ثروت ویش یا توزیع:**

انفلاسـیون په اقتصاد کي د درآمد توزیع هم تر تاثیر لاندي راولي . کله چې قیمتونه لوړ شي پولي درامد هم زیاتوالی مومي خو دغه زیاتوالی یو تربله سره برابر نوي. له کومي استثنا پرته د پولي قیمتونو له زیاتوالي څخه لیږ یا ډیر لوړ وي .

**۳ -د قیمت او پس انداز زیاتوالی:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلــه چــې قیمتونه لوړیږي خلک د انفلاســیون په مقابــل کي د حمایت لپه کــوي .کله چې انفلاسیون ادامه پیدا کړي قرض ورکوونکی او د غیر پولي شتمني څښتن سودمند کیږي او د پانګې څښــتن او هغه کسان چې قرضونه ورکوي تاواني کیږي. په دې برسیره امکان لري چې د انفلاسیون په پایله کي پس انداز او د پانګې ساتنه کموالی ومومي چې دا پخپله لدې کبله چې تقاضا ګړندۍ کوي، ممکن د انفلاسیون حالت نور هم شدید کاندي. که چیرته خلک په خپلو پیسو باندي یوازي توکــي واخــلي، په دې ترځ کي باید ټول پانګوونکې له بانکــي قرضې څخه تامین نشي ځکه ځیني وخــت دغه پیښــه هم په خپل نوبــت سره اضافې تقاضا ته زیاتوالی ورکــوي او د توکو عمومي سطحه بیا لوړوي.

**۴- انفلاسیون اواقتصادي وده:**

د قیمتونــو تدریجي لوړوالی ممکن د پس انداز د کموالي لامل وګرزي چې په خپل نوبت سره تولیــدي پانګــي اچوني ته کموالي ور ښــي، له بله لوري څرګنده ده چــې د تولید او درآمد وده د کارګرو او ټولو منابعو د کامل اشــتغال تضمین کوي او کله چې کافي تقاضا شــتون ونلري اقتصاد په بشپړه توګه وده نشي کولای او ګټه اخستنه په سمه توګه نه ترسره کیږي.

کلــه چې د تقاضا د زیاتــوالي په موخه قیمتونه زیاتوالی و مومــي او دغه زیاتوالی د مزد له زیاتــوالي څخه د مخه وي ، د ســود نــرخ زیاتوالی مومي. په دې حالت کــي شرکت خپل تولید ته زیاتوالــی ورکوي او د ظرفیت د زیاتوالي لپاره په نــوي پانګه اچونه باندي لاس پوري کوي. په دې حالت کي د قیمتونو زیاتوالی ممکن دی او د اقتصادي ودې د ګړندي نرخ لامل ګرزیدی شي.

**۵- انفلاسیون او دخارجې قرضو ورکول:**

کــه چیرت په یوه هیواد کي نرخونه د نورو هیــوادو په پرتله زیات لوړ شي ، نود هغه هیواد واردات زیات او صادرات یې کموالی مومي چې د خارجې قرضي د لیږوالي لامل ګرځي یانې د دغې پیښــي په ترځ کي د هیواد پولي ذخایر کمیږي او له بهر څخه د قرض اخیســتلو ځواک له منځه وړي.

د قرضې د کسر د جبران لپاره له خارج څخه د قرض اخیســتلو د عدم تمایل په ترځ کي پکار دی چې د وراداتو په سطحه کي کموالی راشي چې دغه مسله احتمالاً تولید او اشتغال هم کموي او زیات شرکتونه چې په لمړنیو موادو او خارجې پانګه باندی متکي دي وخت ته منظر پاتي کیږي.

**۶- انفلاسیون او اشتغال:**


**د** فیلیپس په نامه انګلیسي اقتصادپوه د بیکاري او مزد په اړه خورا ګټوره تجربه ترلاسه کړیده ، هغه ترلاسه کړه چې بیکاري د پولي مزد له زیاتوالي سره ټینګ تړاو لري. نورو اقتصاد پوهانو هم د هغــه کار تــه پراختیا ورکړه او دبیکاري او قیمتونو د بدلون تــر منځ یې اړیکه وڅیړله، هغوی ترلاســه کړه چې په لنډ مهال کي د بیکارۍ او انفلاســیون تر منځ خورا مهمه اړیکه شتون لري او کامل اشــتغال باید له انفلاسیون سره یو ځای په تدریجي توګه وي . (فریدمن) عقیده لري چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوږده مهال کي د هغوی تر منځ ورته رابطه شــتون نلري  او د کامل اشــتغال او قیمتونو دثبات موخې ته لارسی ممکن دی.

فلیپس عقیده لري چې په اقتصاد کي کامل اشــتغال هغه مهال ایجادیږي چې  هرچا ته د بازار د مروج مزد له مخي کار پیدا شي، نو کوم بازار چې ورته خاصیت ولري د کامل یا بشپړ بازار په نامه یادیږي. باید و ویل شی چې په واقعې نړۍ کي ورته بازارونو ته رسیدل شوني نه دي ، ځکه د کار او توکو  په بازار کي یو نه یو ډول نقایص یا نیمګړتیاوي شتون لري.

د یــوې دنــدې لپاره پوهه او اړین مهارت، د کار په برخه کې د معلوماتو ترلاســه کول، له یوه شــغل ځخه بل هغه ته  د انتقالی بدلیدو لګښــت او داسي نور هغه څه دی چې له کبله یې د کار بازار نشي کولای بشپړتیا تر لاسه کړي. د دغو نیمګړتیاؤ د شتون له کبله امکان لري د کار په بازار کې اضافې عرضه شتون ولري . دغه پیښه هغه مهال منځته راځي چې د کار په لټه کي  د کارګرانو شــمېر له کاري فرصتونو سره متناســب وي. په دې حالت کی بیکاري د اصطکاکي بیکارۍ په نامه یادیــږي . کله چې دبیــکارۍ نرخ د اصطکاکي بیکارۍ له نرخ سره برابــر وي ، ویل کیږي چې په بازار کې کامل اشتغال شتون لري چې کولای شو د یوه ګراف په واسطه یې په لاندې ډول وښیو:




په هغه بازار کي چې اصطکاکي بیکاري شــتون ونلري د N٢ کارګرانو شــمیر د Lu١ د واقعي مزد په نرخ سره اســتخدام کیږي خو په بازرا کي د شــته نیمګړتیاؤ له کبله د هغو کارګرانو زیات شمیر چې کولای شي د Lu١ له مزد سره د کار اشتغال ولري، N١دي . د اشتغال په N١سطحه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشــاغلو تعداد په دقیقه توګه د هغو کارګرانو له شــمیر سره مســاوی دي چې د کار په لټه کي وي، نو په دې اساس اضافې عرضه له اضافې تقاضا سره مساوي دي.

پــه دې توګــه اضافی عرضه او اضافی تقاضاسره مســاوی وي. او د مزد نرخ هم تغیر نه کوي. د اصطکاکي بیکارۍ نرخ مســاوي کیږي په N۲/N۱-N۲ که چېرې دشــغل ســطح N۱ فرض شي. دبیکارۍ نرخ مســاوی کیــږي N۲/N۱-N۲ داصطکاکــې بیکارۍ نرخ سره یو ډول وي نو شــغل بشپړدی.

پــه هره اندزه چــې د بازار نیمګړتیاوې کمې وي، د اصطکاکي بیــکارۍ نرخ هم په هماغه اندازه کمېدلای شي .


تــر کومه ځایه چې دغه نرخ د انســان درامنخته شــوي اغېزو لاندې وي، نــو پکار دی چې د دغو نیمګړتیــاؤ لپــاره هڅې وشي او په دې منظــور د اتحادیو د انحصاري اثراتــو د کموالي روش پکار ولویږي، شرکتونه د نویو کاري فرصتونو ایجاد ته و هڅول شي، د افرادو لپاره د تخصیصي زده کړو او مهارتونو پروګرامونه پکار ولویږی د خالی مشــاغلو په هکله خلکو ته وړیا معلومات فراهم شي تر څو د کار په لټه کې کار ګران په لیږ مصرف سره د کار غوښتنې چارې په مخ یوسي.

هغه څه چې د کارموندلو د اســانتیا په برخه کي تر سره شــوی دي زیاتره یې د مزد او بیکارۍ د اړیکې په اساس د انګلسي اقتصاد پوهانو له تجاربو څخه منشا اخلي .

لاندنــۍ منحنــي چې د بیکارۍ او پولي مزد تر منځ د اړیکي ښــودنه کوي د فیلیپس د منحني په نامه یادیژي.

د فیلیپس د کار په اساس له هغه وروسته نوور پوهانو د بیکارۍ د نرخ او قیمتونو د بدلون د عمومي سطحې تر منځ اړیکي مطالعه کړې چې تر لاسه شوي منحني یې د لاندي منحني شکل لري.

په اوږده مهال کي د حقیقي مزد زیاتوالی د کارګر له ګټورتوب سره نژدې اړیکي لري.




د امریــکا لپاره د۱۹۹۷ ام کال د صنایعو په کارځای کې د کار ګرانو ګټورتوب تر اوســه پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دری فیصده ته نژدې دی، نو په دې اساس کله چې قیمتونه د ثبات په حالت کې وي لکه د ۱۹۶۲ ام کال پــه ځیــر، په پولي مزد کي باید ۳٪ زیاتوالی راشي، پورتنی مثال دا مســله تائید وي، چې که چیرته د قیمتونو عمومي ســطحه لوړه شي ، کارگران له لیږ ځنډ نه وروســته په کال کی تر ۳٪ د زیات پولي میزان غوښــتنه کوي او هغه تر لاســه کوي ، د دې طریقې له مخی لیدل کیږي چې د قیمتونو د عمومي سطحې او پولي مزد د زیاتوالی تر منځ قوی اړیکه شتون لري چې فیلیپس او د هغه پیروان د اقتصادي سیاست له مخې ورته په اهمیت باندی قایل دي.
ځکه د فیلیپس ارزونه د دې څرگندونه کوي چې که چیرته د انفلاســیون نرخ په کال کي ۳٪ شي نو د بیکاري نرخ حد اقل ۴٪ ته رسیږي.

هغــه لومړنــی ااقتصاد پوه چې د فیلیپیــس منحني یې تر څیړنې لانــدي ونیوله او نیوکي یې وړباندي وکړي، (میلتون فریدمن) دی چې له نظره یې د فیلیپس منحني یوه لنډ مهاله هغه ده او په اوږده مهال کي صدق نکوي. په اوږده مهال کي یوازي د اصطکاکي بیکارۍ یا طبیعې بیکارۍ نرخ شتون لري .


فریــد من د خپل اند او تر لاســه شــوي پایلې له مخي فرضیه وړانــدي کوي. فرض کړئ چې اقتصاد د بیکارۍ په لوړ نرخ کي قرار لري او اوس گړندۍ توســعې ته ننوځي، په پایله کې رکود او قیمتونــه ثابــت پآتي کیږي او ورو، ورو کموالی مومي او هر فــرد انتظآر لری چې دغه وضع په راتلونکــې کــې هم ادامه پیدا کړي . د بېکاره کارگرانو په واســطه د تولیــد له زیاتوالي سره زیات گارگران په بازار باندي د حاکم مزد له نرخ سره استخدامیږي او څنگه چې د تولید نرخ نه زیاتیژي، نو د بیکاری له امله د قیمتونو په سطحه کي بدلون نه راځي خو د شرکت د توسعې له دوام سره باید زیات مزد ترلاسه کړي.

کارگــران له دي عقیدې سره چــې گواکي که نرخ ثابت پاتي شي نو د دوی له لوري د پولي مزد زیاتوالی چې د حقیقې مزد له زیاتوالي سره په برابره توگه پیش بیني شوی دي، قبلوي. د کارگرانو د پولي مزد زیاتوالی د تولید لگښــت زیاتوي چې په پایله کي یې د قیمت عمومي ســطحه لوړی ژي. د حقیقي مزد په پیش بیني شــوی زیاتوالی کی د قیمتونو عمومي سطحه صدق نکوي، ځکه حقیقې مزد یا خو ثابت وي او یا کموالی کوي او زیات کارگران استخدامیږي. که چیرته مجموعي تقاضــا د پــولي او مالي روش له لاري پراخه شي، قیمتونه زیاتوالی کوي او د حقیقې مزد او بیکارۍ نرخ زیاتیږي. د فیلیپس له منحني څخ د فریدمن د برداشت مهم عامل د توکو د قیمت لوړوالی او د حقیقې مزد زیاتوالی دی.

څنگه چې د کارگر لپاره تقاضا د حقیقې مزد تابع دی نو انفلاســیون یوازي د کارگرانو لپاره د تقاضا په ترځ کي منځته راځي. نو ضروري گڼل کیږي چې حقیقې مزد د تعادل تر ســطحې ښکته تعیــن شي. فریدمــن عقیده لري چې د توکو قیمت د هغــوی د مزد په پرتله په گړندۍ توگه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناپیش بیني شــوي انفلاســیون سره تطبیق کیږي، چې دغه زماني فاصله یوازي تر هغه وخته ادامه پیدا کوي چې د قیمتونو دسطحي د بدلون په مورد کي د کارګرانو وړاند وینه ناسمه وي او عقیده لري چې کارګران بلاخیره له خپلي پیش بینۍ څخه خبرتیا تر لاسه کوي




پــه کومــه اندازه چې د بیکاري نــرخ وده کوي په اوږده مهال کي د بیــکارۍ د نرخ بدلون د انفلاسیون د نرخ له تغیر سره شونی نه دي، نو په دې اساس د فیلیپس اوږد مهاله منحني د طبیعې بیــکاري نــرخ کي عمودې خط په افقــې محور باندي دی او یوازي د بیــکارۍ د دایمي کموالی، د بازار د نیمګړتیاو د کموالي په موخه د روشــونو طرحه او اجرا ده. که چیرته دغه سیاســتونه په مــخ یوړل شي د طبیعی بیکارۍ نرخ کمیږي او دفیلیپس اوږد مهاله منحني په چپ لوري لیږدول کیږي .

«اتواکتنابــی» د فیلیپس د اوږد مهالــه منحني په برخه کی نوی نظر مطرح کړیدی. دغه نظریه د هغې د ځیږني خواص دي چې د فیلیپس منحني د فریدمن له تحلیل سره ترکیب کوي.

**د مالي بازار ونو ویش:**

د اقتصــاد علــم پوهانو د نورو ټولو برخو په څیر مالي بازارونه هم تعریف کړیدي. که څه هم دغــه تعریفونــه له ظاهري نظره سره ورتــه نه دي خو بیا هم د یولړ مهمو او ګډو اســاسي نقطو لرونکي دي.

د « فرانســوایپرو» په نامه فرانســوي عالم مالي بازار داسي تعریف کوي: مالي بازار له هغه ځای څخه عبارت دی چې اقتصادي واحدونه د ځیني اقتصادي ارزښتونو د معاملي په توګه تري استفاده کوي. معمولاً بازار ونه په دوو کته ګوریو کي مطالعه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱. ځانګړي مالي بازارونه:**

معمــولاً په خصوصی مــالي بازارونو کي د معاملي د اړخونو واحدونه پيژندل کيږي. دغه اصل اعتبــارات او نــور معاملات په بر کــي نيسي چې د مالي بازار له لوري تــر سره کيږي. یانی د دغو بازرونو اســاس داسي تصور کیدی شي د اقتصادي ارزښــتونو معامله د پيژندلو تر اســاسي شرايطو لاندي تر سره کېدی شي.

**۲. دبورس بازار:**

کــوم څه چې په خاص مالي بازار کي وليدل شــول په عمومي مالي بــازار کی مطرح نه دي او اقتصادي معاملات د هغوی د اقتصادي ارزښت له مخي د قيمتي اوراقو په ډول په بې نومه توګه تــر سره کيــږي. د ورځنۍ نړۍ زياتره مالي بازارونه ورته خصوصيــات لري، له همدې کبله دبورس بازارونــو پــه نامه یادیږي. دبورس کلمــه د معنا او لغت له مخي له مالي بــازار سره کومه اړيکه نلري، يوازي د يوې اصطلاح په توګه منل شويده. ورته اصطلاح له يوې تاريخې حادثې څخه منځته راغلي ده . دغه اصطلاح د مجاري کورني له Vonder Boures) عادت څخه مشــتق شــويده. په دې مانا چې نوموړي کورنۍ هره يکشنبه په خپل کور کي يو شمير سوداګر او د صنايعو څښتنان را غونــډول او د مهمــو اقتصادي موضوعاتو په هکله يې سره خبري کولي. دغه ناســتې ددې لامل شــوي چې ځيني اقتصادي معاملات هم د اشــتراک کوونکو تر منځ په مجالســو کي ترسره شي، له دې وروســته دغه رسم او عنعنه پاتي شــوه او په ټولو هيوادونو کي مروجه شوه . نو په دې توګه پــه کومو ځايونو کي چې د اقتصادي ارزښــتونو په سر د معامــلي کولو موضوعات مطرح کېږي د بورس محافلو په نامه يادېژي. نن ورځ کولای شو له ډول ډول بورسونو څخه يادونه وکړو، د مثال په توګه د توکو ټمونوي بورس.

په ورځني اقتصاد کي بورس د نړۍ د اقتصادي بقا د مهمو شرايطو له ډلي څخه شميرل کيږي ځکه د ورته حرکاتو په ترڅ کي د نړی په ســطحه متناســب اقتصادی او ســياسي حرکات منځته راوړی شي.

د مثال په ډول د ۱۹۲۳-۱۹۳۳ کلونو تر منځ د وال سټريټ په نامه د بورس بازار د اخلال له امله خورا ستر بحران را منځته شو.

نــن ورځ د صنعتــي او نويو صنعتي شــويو اســيايې هيوادونو بورس د نړۍ پــه اقتصادي څرخ خوځولو کی خورا مهم رول لري.

**د بازارونو نړيوالتوب:**

د نړۍ په ســطحه د مختلفو بازارونو د ضم کولو او متحد کولو پروســې ته "Globalization of Markets" ويل کيږي. دغه پروسه اصلاً د يو لړ مشترکو اصولو، تجاربو، سيستمونو، ستراتيژيو او هوســايۍ يو مشــترک تشخيص او تعرف ته ويل کېږي چې د مشترکو توليداتو او خدمتونو لپاره تدريجاً دکلتوری تغيراتو او بدلونونو سبب کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له همدې کبله د "Pepsi," coca-cola", " McDonalds", " burgers", " Music of Madonna"," "MTV", " Sony" "Walkdan"s, " Levis jeans", " Indian masala dosa" , "Indian "Hyderabadi biryani", " Citicorp" "credit cards" او داسې نورزیاتره شیان د مستهلکینو د ذوق وړ تولیدات ګرزېدلي دی.

**د بازارونو د نړیوالتوب خواص**

– د نړیوال بازار تشکیل د یوه شرکت د سایز په لویوالي پوري اړه نلري، حتی ځیني کوچنی شرکتونــه کولای شي په نړیوالو بازارونو کي فعاله ونډه واخلی . د بېلګي په ډول د برطانیې یو کوچنی رستورانت "Harry Ramsden" چې د کلنی خرڅلاو اندازه یې ۱۹ ملیونه ډالر کیدله اوس هڅه کوي چې د خپلو ماهیانو او چپسو خرڅلاو د جاپان تر هیواد پوري ورسوی.

– په ځایې یا محلی بازارونو کي دســتراتیژیو بدلون آن د بازارونو د "Globalization" یــا نړیــوال کیدلو وروســته هم لا په خپل ځــای پــاتي ده.د بېلګي په دود د دغــو توپیرونو پــه وړاندې شرکتونه هم ورته ســتراتیژي عملــی کوي. که ورته وکتــل شي د "Coca-Cola"," "McDonalds", "Levis jeans""", او داسي نــور شرکتونــه د هر بازار لپآره په بازارکی د شــته شرایطو او جریاناتومطابق د خپل سوداګریز فعالیت د نورمال پرمختګ لپاره مختلفی ستراتیژي پر مخ بیایی.

– زیاتــره باندني بازارونــه د تولید او تجارت له مخي د مشــینری، تجهیزاتو، خامو موادو، کمپیوتر او داسي نورو صنعتي سامان الاتو په څیر د non-consumers goods بازارونه دي.

– نړیوال سوداګریز شرکتونه دکورنیو بازاونو په شمول په مختلفو ملي او بین المللي بازارونو کــي یــو له بل سره دوامداره ســیالیو او رقابت ته دوام ورکــوی. د بیلګي په ډول د کوکا کولا شرکت د پیپسی د شرکت ستر رقیب ده: همدارنګه فورډ شرکت د ټویو ټا ، "Boeing" شرکت د "Airbus" او "Caterpillar" د "Komatsu"،شرکتونــو نړیــوال رقیبــان دي. نــو د دارنګه شرکتونو د سیالۍ او تربګنۍ په ضمن کي نړیوال بازارونه منځته راځی.

**۱- سی اف ډي بازار یا (Contract for Difference = C. F. D)**

په دې ډول بازار کې تاشې یوازی د نرخو نو په توپیر کې سره شریک یاست د دې قرارداد په کولو سره تاسي نه شي کولي چې د معاملې په مالی دارائي کې د فزیکی بدلونونو په نســبت ادعا وکړي. یا ادعا ولری تاسی یوازی د قیمتونو په توپیر کې مومی یې.

په دې بازار کې تاسی کولی شي ګران قیمته فلزات، استراتیژیک کالي(نفت) او حتی لوړ سهام چې لوړ نقدوونکي وي معامله کړي. هغه څوک چې غواړي ځان په سی. اف .ډی بازار کې داخل کړي د بورس بازی او پانګونې له ځانګړو توپیرونو څخه ځان آګاه کول ورته ډیر اهمیت لري.

تجــارت په ســی. اف . ډی( C. F. D ) بازار کې طبعاً ســودا ګرانه ماهیــت غواړي.... C . F. D د نــه پایوونکو (ناپایدار) بازارونو څخــه په جهان کې دي. په ځانګړې توګه په هغو معاملو کې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

احتیاطــی پــس اندازونه (پانګه، ذخیره ) تر سره کوي لنډ محالــه معاملې کیدای شي ډیري ګټوری وي. هغــه معامله کوونکي چې باریک بینه او احتیاط کار عمل کوی حتی په شــپه کې هم کولی شي چې ډیري لوړی ګټې تر لاسه کړی. لنډ محاله معامله یوه ستونزی پارونکي معامله وي. او په هیڅ ډول د هر چا لپاره مناسبه نه وي. او لنډ محاله معامله اصلاً یو ډول بورس بازی د او هغوی یوازې ســوداګری کوي په هر ډول هغه وګړی( اشــخاص) چې پهC . F. D بازار کې معامله کوي حرفوی لنډ محاله معامله کوونکي نه وي. اغلب معامله کوونکي حرفوی وګړی وی. دغه وګړی لنډ محالــه معاملې نه کوی بلکه کلــه کله د لنډ محال لپاره دغه بازار ته ځان دننه کوي. او دا هم یو ډول سوداګري ده. او نه باید له پانګوني سره یو شان وګڼلی شي.

۲- **بــازار فارکــس (Forex):** د معنــا له مخې څرنګــه چــې foreign exchange د بانکنوټونو، مسکوکاتو، چکونو، ډرافټونو، الیکټرونکی پیسو او bank balance په شکلونو د باندنیو هیوادونو پیســو ته ویل کیږي نو foreign exchange markets یو فزیکی، انلاین، او بنیادی جوړښــت ده چې په واسطه یې د market force او یا دوه اړخیز توافق په تر څ کي د ټاکل شوي نرخ له مخې د یوه هیواد پیسې د بل هیواد په پیسو باندې بدلیدلای شي. د باندنیو اسعارو معامله چې ممکن په فزیکی یا آنلاین شــکل سره تر سره شي، د باندنیو اســعارو د اخیســتونکی او پلورونکي تر منځ داسې موافقې ته ویل کیږي چې په تر څ کي یې د واحدی سکی ثابت رقم د بلی سکی د معین مقدار پیسو په عوض په مشخص وخت کي تسلیمیږی.

د باندنیو اســعارو د دغه ډول بازار په جغرافیوی لحاظ په ټوله نړۍ کي تیت شــوي، ګډون وال یې پوه او مجرب کسان دی، ګټې او مختلفی معاملې پکی تر سره کیږي. او د باندنیو اسعارو معاملې د ټولی نړۍ په جغرافیوی ساحو کي د هر هیوا د په سطحه ترسره کیدلای شي.

دغه بازار په ورځ کي ۲۴ ســاعته او په کال کي ۳۶۰ ورځې پرانســتي وی. څنګه چې په دقیقه کي د نړۍ په هر ګوټ کي د اســعارو بیلا بیلي معاملې تر سره کیږي او په بازار باندې مختلف اثرات غورځــوی، نو د مختلفو ســاحو د وخــت د تو پیر له امله ګډونوال او د اســعارو تجارتي مراکز ۲۴ ساعته پرانستي او د ورته جریانی پروسې مراقبت کوی.

د باندنیو اســعارو بازار یا foreign exchange markets د جوړښــت له مخې له دوو طبقو څخه جوړ شــوی چې یوه برخه یې عمده یا whole saller/enterbank او بله برخه یې پرچون بــازار ده. ددغه بــازار ګډونوال د باندنیو اســعارو له بانکي او غیر بانکــي ډیلرانو، افرادو، هغو شرکتونو چې کمرشــل او د پانګونې معاملې کوي،speculators، منځګړیو، مرکزي بانکونو، زیرمه تونونو او دلالانو څخه عبارت ده. ددغه بازار بانکي او غیر بانکي ډیلران په عمده او پرچون توګه فعالیت کوي. دوی باندنی اسعار په 'bed' قیمت سره را نیسي او په 'ask' قیمت سره یې پلوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افراد او هغه  شرکتونه چې ورته تجارتي معاملات کوي له واردونکو، صادرونکو، "MNCs"شرکتونو، ګرځندویانو او داسي نورو څخه عبارت دي. دغه طبقه د باندنيو اسعارو بازار د تجارتي معاملاتو د تر سره کیدلو په  برخه کي د facilitative  ارګان یا سهولت برابروونکی ستې په ډول استعمالوي. Arbitrager's  یا منځګړی او speculators د اسعارو په دغه بازار کي لدې امله ګډون کوي ترڅو داسـعارو د نـرخ له بدلون څخه په یـوه نه یو ډول ګټه پورته کـړي.  دوی هڅه کوي په بېلابېلو بازارونـو کـي د نرخ له همزمـان بدلون نه ګټه اوچته کـړي. مرکزي بانکونـه او زیرمه تونونه یا treasuries بیا په بازار کي د دې لپاره ګډون کوي تر څو دباندنيو اسعارو ذخایر او زیرمی پوره او یا ختمی کړي او دبازار په نرخ باندي خپل اثرات جاری وساتی.  دباندنيو اسعارو دلا لان او ایجنټان د خپلو بادارانو په وکالت او نیابت د باندنيو اسعارو د پیر او پلور معامله کوي او د خپل خدمت په عوض کي له هغوی نه معمولي کمیشن اخلی.

ددغه بازار د حجم په برخه کي ویلای شـو چې د اسـعارو په بازار کي د سوداشـویو اسعارو مقدار او میچه خورا ستره ده  د تخمین له مخي په دغه بازرا کي د اسعارو د پیر او پلور د تر سره شویو معاملاتو اندازه په ورځ کي  نژی US $۱,۵   ترلیون ته رسیږی.

**۳- د فارکس بازارونو مرکزي موقعیت :**

د فارکـس تجارت په شرحه کـې سره لدې چې له بازار څخه مو یادونــه وکړه، و پوهیدو چې فارکس د سـترو بانکونو تر منځ د تجارت په دود معنا کړو چې د سـترو شرکتونو تر منځ د معاملي کولو اسـانتیاوي برابروي. د فارکس په بازارونو کي د اسـعارو نرخ له هغه اخري نرخ څخه عبارت دی چې د دغو بانکونو له ډلې څخه دیوه له لوري وړاندي شوی وي.

په ورته بازارونو کي د انترنیټ او تلفون په څیر د الکترونیکي وسایلو د شتون له کبله د نړۍ په هره برخه کي معامله کول ممکن کوي، چې دا پخپله یو ستر بازار چې د  Over Tht Counter په نامه یادیږي منځته راوړی.

راځي پوه شو چې بورسي بازار څه شی دی؟ له هغه بورسي بازار سره چې تر اوسه مو ورنه یادونه کړیده، څه توپیر لري؟

فرابوریسـی بازار یا Over Tht Counter د بورس د معمولي بازارونو په څیر د ټاکلی فزیکي مکان لرونکي ندي . ورته بازارونه د کمپیوتر او تلیفوني اړیکو په  اسـانتیا بریالی شـوی دي چې په مرسـته یې په سـلګونو معاملې تر سره کیدی شي . په بوریسي بازارونو یا Over Tht Counter کي زیاتره معاملات د مالي موسساتو او یا نړیوالو موسساتو او د هغوی د پیرونکو یا مشتریانو تر مینځ تر سره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د Over The Counterبازار خصوصیات**

۱. د نورو بازرونو په پرتله د زیاتو اسانتیاؤ شتون
۲. د بورس له لوري د شرایطو عدم تعین
۳. په ورته بازارونو کي معامله کول د بورس بازراونو په پرتله یوه درجه لوړه ده
۴. له هغو معامله کونکو سره په مستقیمه توګه اړیکه نشي ټینګولای.

**په Over The Counter معاملاتو کي ویره یا خطرات**

یوازنـــی خطـــر چې په ورته معاملاتو کي شـــتون لـــري ، د معاملې د لوریو تـــر منځ د ژمنو او تعهداتو له نه اجرا کیدلو څخه عبارت دی.

څنګه چې یادونه وشوه په ورته بازارونو کي پیسې له امریکایې ډالر، انګلیسې پونډ، جاپآنې ین، اســـترالیایې ډالر، سویســـیي فرانک او کاناډایې ډالر څخه عبارت دی نو په دې ځای کي دا پوښتنه اهمیت لري که و پوښتلې شي چې په بازار کي د پیسو تبا دلوی اهمیت په څه ډول ټاکل کیږي.

د دې پوښتني د ځواب په موخه باید لاندي ځانګړنې مطالعه کړو.

۱. قوي اقتصاد او د ځواکمنو اقتصادي شاخصونو شتون
۲. د مستقیم اقتصاد د ځواکمن کاري نظام شتون چې د تطبیق وړتیا لري.

دغه عوامل کولای شي د پیسو د یادي شوې نیوکې ځواب و وایې.

دغه عوامل کولی شي د یادو شوو پیسو په نقد کولو کې رول بازی کړی او دهغوی د کار درجه په بازار کې تثبیت کړي مونږ په تیر بحث کې دا ( ) ( در جفت وارد بودن پول ها) په معاملو کې مو بیا یادونه وکړه. د مثال په ډول ډالر، پوند، او یا یورو د ین په واړاندی اوس که فرض وکړو چې یو واحد په بازار کې معامله کیږي او د پوند ارزښت په بازار کې ۱,۸۸۵۶ ډالر ده نو په دې ډول ښـــودل کیږيG.B.P/U.S.D=۱/۸۸۵۶ نو د معاملی په دې لحظه کې چیری مشـــتری ۱۰۰ رزه ډالره پانګونه کړی وي. او دانګلستان پوند اخلی او څو ساعته ورسته د انګلستان د پونډ قیمت ۱,۸۸۱۳ رقم ته رســـیږی نو په دې وخت کې معاملـــه کوونکي د خپل تحلیل په بنیاد د معاملی د تړلو (بســـتن ) پریکړه کوي. او خپل ســـود(ګټه) اخلی نو په دی ځای کې معامله کوونکی دا لاندی ګټه کړی ده.

۵۳۰۳۳۰۵۶=۱۰۰۰۰۰/۱۰۸۸۵۶ اخیســـتل شـــوی انګلســـتانی پونـــد د معاملـــی پـــه پیـــل کـــې ۱۰۰۳۰۲,۲۹=۵۳۰۳۳۰۵۶*۸۹۱۳,۱ لاســـته راغلـــی آمریکایی ډالر د معاملی پـــه پای کې د معامله کوونکي ګټه مساوی ده په ۳۰۲۰۲۹ امریکایي ډالره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مستقیم او غیر مستقیم د پیسو اسعار**

په دې بازار کې دوه ډوله پیســـی په کار وړل شـــوي. او د یو په بل وړاندي معامله شوی هغه اســـعار چې د طلا په بنیاد وی هغو ته مســـتقیمی پیسی وایي او د دې نه پرته که امریکایي ډالرو بنیادونه لري. نو هغو ته غیر مستقیمی پیسی وایي.

**د نورو بازارونو په پرتله د فارکس بازار ښه والی:**

- بازار ته اسانه لاس رسی: دغه بازار ته یوازي د یوې پایې کامپیوتر په واسطه رسیدشونی کېږي.

- **د انټرنیټ ډاډمنه شبکه:**

- د کاري پروګرام اســـانتیا: له یاد شـــوي شونتیا سره تاسو کولای شی د زمان په هره لحضه کي له ورته بازار سره اړیکې ونیسی. په دې ترځ کي معامله کوونکي لاندې اسانتیاوي تر لاسه کولای شی

- د پرانستلو لپاره انتظار ته اړتیا نشته.

- کوم ځانګړي ځای ته د تلو اړتیا نشته

- د ځانګړیو قانوني شرایطو اړتیا نه احساس کېږي لکه کریډیټ کارټ او داسي نور.

- د لګښت کموالی

- د بازار دوه اړخیز خاصیت

- د پیسو د بازار شفافه اطلاع رساني.

- د مالیاتو نه ورکول یا عدم پرداخت.

**دځلورم څپرکي   د مطالبولنډیز:**

د انفلاســـیون او مـــالي بازارونو په ماهیت او د اقتصادي معاملاتـــو په اقتصادي اهمیت باندي وپوهیدو ، همدا شان یادونه وشوه چې انفلاسیون په کومو حالاتو کي بروز کوي  او په اقتصادي، ټولنیز او سیاسي ډګر کي  څه اغېزې لري.

د څپرکـــي  پـــه اوږدو کي مو د انفلاســـیون له ګټو او تاوانونو څخه هـــم یادونه وکړه او د هغه  د ډولونو په هکله مو اړین معلومات تر لاسه کړل.

څنګه چې انفلاسیون د خپلو اغېزو په لړ کي له اقتصادي پلوه زیاتې ټولنیزې ستونزې په ځان کې رانغاړي  نو په دې خاطر خو د هغه د مخنیوي له میتودونو څخه هم لنډه یادونه وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د څېرکي په اوږدو کي و ويل شول چې په ټولنه کي يوازي فزيکي پيسې او بانکنوټونه شتون نه لري بلکي له څنګه يې دفتري پيسې هم د فزيکي پيسو په څېر خپلي دندي په مخ وړي او د اقتصادي فعاليتونو د تر سره کولو پروسې ته چټکتيا وربښي.

څنګه چې انفلاسيون له توليد شويو توکو سره په تړاو د پيسو له عرضې سره نيغه اړيکه لري نو په دې اساس مجبور يو چې د پيسو عرضه د ټولنيزو اړتياؤ له مخي د شته ارزښتمنو توکيو او اقتصادي معاملاتو د نسبت له مخي مطالعه کړو.

څنګه چې پخپله د انفلاسيون پديده د ټولنيز توليد په پرتله د پيسو زياتې عرضې ته ويل کيږي نو په دې اساس د توليداتو له عرضې او د هغوی له تقاضا سره هم مستقيمي اړيکي لري او څنګه چې توليد په خپله د يوه کار په تر ځ کي منځته راځي او له استخدام سره تړلي پدېده ده او استخدام په خپل نوبت کي له مزد سره اړيکي لري نو ويل کيږي چې انفلاسيون له مزد سره په تړاو د هر اړخيزو اثراتو لرونکی دی او په ورته زمان کي کولای شو دغه پدېده د دولت له عوايدو سره په تړاو مطالعه کړو. نو ويلای شو چې دغه اقتصادي پدېده د يوه هېواد د تجارت له بيلانس سره په تړاو هم مطالعه کولای شو.

**د څلورم څپرکي پوښتنې:**

١. د انفلاسيون مفهوم څه شی دی؟

٢. انفلاسيون څنګه منځته راځي؟

٣. څو ډوله انفلاسيون پيژنئ؟

۴. په ټولنه کي د انفلاسيون اقتصادي اغيزې واضيح کړئ؟

۵. ايا انفلاسيون د بيکارۍ د منځته راتلو لامل کيږي او کنه ؟

۶. د انفلاسيون په ترځ کي د هيواد د رسمي پيسو له منځه وړل څومره اهميت لري واضيح يې کړئ؟

٧. د تادياتو بيلانس څه شی دی او د تادياتو له بيلانس سره په تړاو د انفلاسيون اغيزې څه شی دي؟

٨. د انفلاسيون د مخنيوي ميتودونه شرحه کړئ؟

٩. د مالي بازار مفهوم څه شی دی تشريح يې کړئ؟

١٠. کوم ډول انفلاسيون د اقتصادي رشد له مخي ګټور دی نوم يې واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## کریدت  او په اقتصاد کې د هغه رول

**ټولیزه موخه:**
په اقتصاد کې د کریډیټ او قرضې د رول او اهمیت

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي په پای کې له محصلینو نه هیله کېږي چې :

۱- د کریډیټ یا اعتبار ډولونه و پېژني.

۲- د جاري حسابونو له مخې کریډیټ و پیژني.

۳- د رانیوونکو له مخې کریډیټ و پیژني.

۴- په خارجې تجارت کې د کرېډېټ اغیزې و پیژني.

د دې لپـاره چــې په ټولنه او اقتصاد کې د هغه په اهمیت باندی  و پوهېږو غوره ده چې  په لومــړی سر کـــې د کریډیټ په کلمه باندې خبرې وکړو او وروســـته یې اهمیــت تشریح کړو. یوه اقتصادي معقوله ده چې وایې د انســـان اړتیاوې بیشــمیره دی خو د هغوی د رفعه کولو وســـایل محــدود دي، دغــه  جمله مو له یو لړ اقتصادي اړتیاؤسره اشــنا کوي چې هــره اقتصادي پدیده د هغوی د پیژندلو له مخې مهمه ده نو په دې اساس په لومړی سر کې  کریډیټ د اقتصاد  له مخې تحلیل او ارزیابې کوو او وروسته یې په اهمیت باندې خبرې کوو.

د کریډیـــټ لفظ دا مفهوم پیاده کوي چې که د یوه ارزښـــت پـــه مقابل کې د هغه د معادلو روشونو په واسطه شیان او خدمتونه تر لاسه شي او د شیانو د واپس کولو په ترڅ کې بیرته  اصلي ارزښت تر لاسه شي، کریډیټ ورته ویل کیږي. نو په دې توګه موږ  د معاملاتو له لارې د کریډیټ اقتصادي مفهوم تر لاسه کوو چې اوس یې د ماهیت په اړه هم غواړو معلومات ترلاسه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریدیټ د کلمې له مخې د قرض کولو معنا ورکوي چې همدغه قرضه هم دیوه اعتبار په مقابل کې تر لاسه کیږي ، نو په دې توګه اعتبارات هم امکان لري چې ټاکل شوي وجوه یا ټاکل شوي جنس وي.

په ملي اقتصاد باندې د کریډیټ اغیزې هغه وخت غښتلي وي چې د تحریري پیسو د لیږوالي یا کموالي له امله په دوران کې د پیسو په مجموعه کې بدلون رامنځته شي او په مثبته یا منفې توګه د قیمت تاثیرات منځته راوړي.

څنګه چې کریډیټ هم دبانکونو له لارې ورکول کیږي نو په دې اساس د اعتباراتو ضریب په حقیقت کې د دې موضوع څرګندونه کوي چې د یوه کریډیټ د اجرا په ترڅ کې په بانکي سیستم کې یو نوی قدرت ایجادیږي او په هره اندازه چې د کریډیټ حجم زیات شي په هماغه اندازه د قانوني ذخیری څرګندونه کوي او برعکس.

په دې مانا (معنا) چې که چیرته یو بانک د کریډیټ په توګه یو پولي واحد ایجاد کړي، دغه اجرات په تولنه کې مثبته پایله لري. فرض کړی یو بانک د ۱۰۰۰ افغانیو یو کریډیټ اجرا کوي ، زموږ فرضیه دا ده چې په ټولنه کې بانکي سیستم پخپله کار کوي. په دې ترڅ کې که وغواړو چې د اعتبار د ضریب سنجش وکړو،نو زموږ کړنه ممکن د اعتبار د ضریب څخه استفاده کوی چې له Z=۱/۱-q*s څخه عبارت دی . په دې فرمول کې Z- Q-S فرضی انتخاب شویدي چې Z یې د اعتباراتو ضریبQ یې مولده ذخیره او S د اعتبار اصلي مبلغ بلل کیږي.

**پورتنی فرمول په لاندې ډول هم تعریف کولای شو چې:**

Zد کریډیټ له ضریب څخه عبارت دی ، S د کریډیټ مبلغ دي او Q له پس انداز څخه استفاده کول دي، په هره اندازه چې له پس انداز څخه زیاته استفاده وشي ، دکریډیټ ضریب کوچنی کیږي. که د پس انداز له ټولو پیسو څخه د کریډیټ ضریب د کریډیټ د مقدار په مبلغ باندې تقسیم کړو د کریډیټ ضریب لاسته راځي.

له پورتنیو توضیحاتو څخه دا پایله تر لاسه کیږي ، په هره اندازه چې د کریډیټ ضریب ستر وي نو په هیواد کې بانکي وضع په هماغه اندازه بهتره ده یانی موږ د ستري مولدې ذخیرې لرونکي یو او پس انداز زیات دی چې کولای شو د پانګونې په ډګر کې تري استفاده وکړو چې پانګه اچونه پخپله په ټولنه کې د تولیداتو د ودې او حقیقي او اسمي عاید د ایجاد سبب ګرځي، همدا شان تولید په خپل ځای کې د صادراتو د زیاتوالي او د خارجي پیسو په وړاندې د داخلي پیسو دارزښت د لوړوالي لامل ګرځي.

مولده ذخیره هغه زیرمه ده چې په بشپړه توګه د لګښت له مسیر څخه وتلې وي او بانک د پانګونې لپاره ځانګړې کړې وي. په بل عبارت مولده ذخیره له هغو مبالغو څخه عبارت ده چې په موقتي توګه د لګښتونو له مسیر څخه ایستل شوي وي خو دا شوني ده چې د مشتریانو له لوري د لګښتونو په توګه و کارول شي.

په دې ځای کې کولای شو د ۱۰۰ زره افغانیو دکریډیټ د ضریب اغیزې مطالعه کړو. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای کي له پورتني فرمول څخه اســتفاده کوو خو په دې فرمول کي  مهم شرط  د قانوني ذخيري د درلودلو هغه دی. که فرض شي چې قانوني ذخيره ۲۰٪ ده، ضريبې تاثيرات يې په لاندي ډول تر لاسه کيدی شي.

Z= ۱/۱-s* q = ۱/۱-۰. ۸*۱۰۰۰۰۰= ۱/۰. ۲*۱۰۰۰۰۰=۵۰۰۰۰۰  ۵مرتبه

**د کريډيټ يا اعتبار ډولونه**

الف:  کريډيټ په مختلفو ډولو طبقه بندي کولای شو

د وخت له مخي کريډيټ په لاندي ډول طبقه بندي کولای شو :

- اوږد مهاله کريدت
- لنډ مهاله  کريدت
- منځمهاله  کريدت

**۱- اوږد مهالــه کريډيــټ:** دغــه ډول کريډيټ د ۱۲ او يا تر هغه د زياتــو کلونو لپاره اجرا کيږي. دغه ډول کريډيټ  يا اعبتارات  د درنو صنايعو، مصنوعي ځنګلونو او داسي نورو سترو پروژو لپاره ورکول او اخيســتل کيږي.  د ورته اعبتاراتو منابع بيا هم هماغه مولد پس انداز دي. ځيني وخت د ورته اعبتاراتو موده تر ۲۲ کلونو پوري هم ادامه کوي .

**۲- لنډ مهاله کريډيټ:**  دا هغه ډول کريډيټ دې چي له يوې مياشتي څخه تر دريو مياشتو پوري اجرا کيږي. دغه ډول اعتبارات د بيړنيو ستونزو د رفع کولو په منظور ورکول کيږي  لکه مزد، معاش او بيړني معاملات. د ورته اعبتاراتو د ورکړې منابع يوازې له موقتي پس انداز څخه عبارت دی.

**۳ - منځ مهاله کريډيټ:** دا هغه ډول اعتبارات دي چې له دريو مياشتو څخه تر پنځو کلونو پوري اجرا کيږي. دغه ډول کرېډېټ معمولاً  د متوســطو او خفيفه صنايعو په برخه کي ورکول کېږي. د ورته اعتباراتو منابع بيا هم له مولده ذخيري څخه عبارت دی.  په ځيني اســتثنايې مواردو کي له موقتي ذخايرو څخه هم د ورته اعتباراتو د منبع په توګه استفاده کولای شو.

**ب: د جاري حسابونو له مخي کريډيټ**

له يادي شوي مخي نه کولای شو کريډيټ په لاندي ډولونو باندي و ويشو:

۱. د مال التجارې کريډيټ
۲. ساده کريډيټ
۳. د بهادارو پاڼو يا اوراقو کريډيټ
۴. پذيرشي کريډيټ
۵. بورسي کريډيټ

**۱- مــال التجاره کريدتونه:**  دغه ډول کريډيت د بارنامي يا ګدام د اســنادو په اســاس ترتيب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي. بارنامه له هغه مورد څخه عبارت ده چې د ترانسپورتي شرکتونو او تصدیو له لوري یو ډول لیکل شــوی ســند دی چې د توکو، د هغوی دقیمت او رســیدلو د محل پته په کي لیکل شوي. د ګدام اســناد له هغو اســنادو څخه عبارت دی چې د خصوصي یا عمومي ګدامونو له لوري صادر شوی وي او دشیانو د مقدار او د هغوی د ارزښت په برخه کي ځانګړي معلومات ولري. د بانکونو له لوري ایجاد شوی اعتبار په وثیقه کي تر مندرج مبلغ کم وي.

۲- **ســاده کریډیــټ:** دا له هغه ډول اعتباراتو څخه عبــارت دي چې د بانک له لوري یوازي د شخصي هویت له مخي اجرا کیږي. په دې برخه کي تضمین ته اړتیا نشته ، په افغانستان کي ورته اعتبار د سپیني قرضې په ډول هم اجرا کیدلې چې په ۱۳۶۴ ام کال کي منع اعلان شوي.

۳- **د ارزښــت لرونکو پاڼــو کریډیټ:** دا هغه ډول کریډیټ دي چــې بانکونه یې د کریډیټ اخیســتونکي د اعتبــاري یا بهــاداره پاڼو د لیدلو له مخي اجرا کــوي . د دغه ډول اعتبار میچه تر هغه مبلغ کمه وي چې په دغه قیمت لرونکي پاڼه کي درج شــوي وي او دا هم لدی کبله چې د مبالغو د عدم حصول په برخه کي بانک له کومي خسارې سره مخ نشي او هغه له کوم زیان نه پرته جبران کړای شي.

۴- **پذیرشــی کریدت:** دغه ډول اعتبارات له هغو اعتباراتو څخه عبارت دي چې د تضمین له مخــي منځته راځي او لړی یې داسي دي ، فرض کړئ افغاني تجار یوه پاکســتاني تجارته یوه اندازه اموال صادروي ، پاکســتاني تجار د مال تر لاســه کیدلو وروسته افغاني تجار ته حواله صادروي . له یوه لنډ ځنډ وروسته لا هم د حوالې د دغه سند وخت نه دي را رسیدلای چې افغاني تجار پیسو ته اړتیا پیدا کوي خو په افغانستان کي هیڅ یو بانک د پآکستاني تجار د حوالې بدلیدلو ته حاضر نه دي.

د ســتونزې د حل لپاره افغاني تاجر پاکســتاني تجار ته خبر ورکوي ، پاکستاني تاجر خپله حواله یوه داسي پآکستاني بانک ته چې د افغان لوري منل شوی وي، ور وړي او د تضمین غوښتنه کوي، پاکســتاني بانــک د حوالې تضمین کوي او افغاني بانک تــه یې په اړه اطلاع ورکوي . په دې صورت کي افغاني بانک حواله تنزیل کوي او افغاني تجارته پیسې ورکوي.

که چیرته د پآکســتاني تاجر له لوري د حواله شــویو پیسو د سررسید د پرداخت ځای او نیټه هم صورت و نه نیسي ، پآکســتاني بانک د دې مکلفیت لري چې تضمین شــوی رقم تادیه کړي. په دې تــرڅ کي لیدل کیږي چې په اعتبار قبولو(منلــو) کې څلور اقتصادي عوامل دخالت لري یعني افغاني تاجر، پاکســتاني تاجر، افغاني بانک، پاکســتاني بانک. په حقیقت کي پآکســتاني بانک هم د تاجــر دهویت له پیژندلو ورســته د تضمین ورته پریکړه کوي، پــه داسي حال کي چې صادرونکي بانک یوازي پرداخت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵- بورئیسی اعتبارات:** دغه ډول اعتبارات له هغو اعتباراتو څخه بحث کوي چې د اسعارو د تبادلې په بازار کي د قیمت له نوساناتو څخه د ګټې اخیستلو په موخه د بانکونو او اشخاصو له لوري اخیستل کیږي.

دغه ډول اعتبارات د لنډ مهاله اعتباراتو خاصیت لري او حد اکثر دری میاشتي په بر کي نیسي چې دغه خاصیت یې له اربي تراژ اعتباراتو سره خورا توپیر لري. اربې تراژ یا Arbetrage اعتبارات هغو اعتباراتو ته ویل کیږي چې د قیمت له نوساناتو څخه د استفادي په موخه په ځانګړی وخت کې تر سره کیږي.

د مثال په توګه که چیرته د اسعارو د تبادلي په دوو بازارونو کي د یوه شرکت یو واحد ونډې قیمت دوه ګونی بدلون و مومي او اقتصادي واحدونه وغواړي له دې بدلون څخه استفاده وکړي دغه ډول معاملاتو ته د اربي تراژ معاملاتو منبع ویل کیږي. اربې تراژ په حقیقت کي هغه فرصت ته ویل کیږي چې له کوم ګواښ نه پرته په یوه وخت کي په یوه یا څو بازارونو کي تر لاسه کیږي.
درانیوونکـــي لـــه لیدلوري کرېدت :له دې لحا ظه کولای شـــو کرېدت په دوو بر خو ووېشـــو: خصوصي کرېدتونه، عمومي کرېدتونه
عمومي کرېدتونه دولت او خصوصي کرېدتونه خصوصي سکتور اجرا کوي

**له اســتعمالي لحاظه کرېدت:** له دې لحاظه کرېد ت کولای شــوپه دووکټګوریو ووېشــو : سر مایوي کرېدتونه ، استهلاکي کرېدتونه. سرمایوي کریدتونه معمولا تولیدي لوری په نظر کې نیسي او د ظرفیتونو د تغیر او ان تر دې چې د نویو ظرفیتونو د جوړېدو ســبب کېږي ،په داســې حال کــې چې اســتهلاکي کرېدتونه معرفی وي او په ټولیز ډول ددغــه ډول کرېدتونو د اجرا وخت لنډ وي خو دداسې کرېدتونو اغېز منتوب او نه اغېزمنتوب د پوهانو له خوا د سر مایوی کرېدتونو په ګټه بلل کېږي .

**په بهرنۍ سودا ګر ۍکې کرېدتونه :**

په بهرنۍ ســوداګرۍکې اعتبارات تر کورنۍسوداګرۍډېر تا ثیر لری ، چې دغه اعتبارات د هر هېوادپه بانکي سیستم کې په ټولیزډول تنظیم شویدی او د هغوی د کړنو درجه د بانکي سیستم دتکامل سره برابره ټا کل کېږي .اعتبارات په بهرنۍســوداګرۍکې لنډمها له وی او په ننیو شرایطو کې شــیانو د لېږد را لېږد او بهرنیو اعتباراتو د ســاده ســازۍ لپاره له بنسټیزو وسیلو څخه شمېرل کېږي.

**اکریدتیف کریدت (Akridifeve):**

دا له هغه ډول اعبتاراتو څخه عبارت دی چې د داخلي او خارجې ســوداګرو تر منځ د خلا یا تشې د محوه کولو په موخه اجرا کیږي. له پورتنۍ وینا څخه دا پایله تر لاسه کیږي چې اکریدتیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

کریډېټ د تضمین له مخي د بین المللي کرېډېټ ډول دی. د ورته کریډېټ د عمل پروسه داسي دی چې: فرض کړی ځیني تاجران له بهرنیو تاجرانو څخه دتوکو د رانیولو لیوالتیا لري، په دې ترځ کي دوی بانک ته مراجعه کوي او له بانک څخه د اعتباري او کریډېټي اســانتیاؤ غوښــتنه کوي، ځکه دغه دوه یانې داخلي او خارجي سوداګر یو تر بله پیژندګلوي نلري. په دې ترځ کي بانک د معاملې د قیمت په اندازه د غوښتونکي سوداګر لپاره ټرل شوي کریډېټ پرانیزي او ټرل شوی کریډېټ له هغــه کریډېټ څخه عبارت دی چې د بانک له لوري د اقتصادي واحد لپاره پرانســتل کیږي خو سوداګري هیڅکله هم په مستقیمه توګه له هغه څخه استفاده نشی کولای.
د معاملې د طرف بانک له خپله لوري باندې هېواد ته خبر ورکوي چې د خپل ســوداګر لپاره د دا ډول کریډېټ تضمین کوي. په دې توګه خارجي بانک د صادراتي اموالو په لیږد او اســتولو بانــدي لاس اچــوي او په اړه یې داخلي بانک ته خبر ورکوي. داخلي بانک د خبر له تر لاســه کولو وروسته سم دلاسه د اخیستل شوي مکلفیت د اجرا په اړه اقدام کوي.
په دې ترځ کي لیدل کیږي چې د سوداګرو د نه پیژندګلوي او پیسو د نه شتون په ترځ کي دهغوی تــر منــځ د معاملې د تر سره کېدلو د موخې تر منځ خلا د ورته کریډېټ په واســطه له منځه وړل کیږي.

**ریمباورس اعتبارات (Rembourés):**

دا ډول کریډېــټ د تضمیــن له مخي له نړیوالو یا بیــن المللي کریډېټونو څخه عبارت دی . د بانکونــو لــه لوري دغه ډول کریډېټ هغه مهال اجرا کیږي چې د معاملې دواړه لوري د هویت له پیژندلو سره سره د یو ډول تضمین غوښتنه وکړي. په دې ترځ کې بانک د ورته ستونزو د لري کولو په موخه د ورته کریډېټ په اجرا کولو لاس پوري کوي خو باید و ویل شي د ورته کریډېټ په ترځ کي د هغه د تادیې تضمین د بهیر له اساسي شرایطو څخه ګڼل کیږي.

**د پنځم څپرکی دمطالبو لنډیز:**

د څپرکي د لنډیز په توګه ویلای شو چې د تجارت له ودي سره په تړاو کتبي پیسي مو د اقتصاد په بېلابېلو ساحو کي مطالعه کړي.
دڅپرکــې لنډیــز په دې کې دي چې په اقتصاد کې دپیســو رول دتجارت پــه پراختیاکې اوهر اړخیزې اغیزې داقتصاد په بېلابېلو ســاحو کې مطالعه او وڅیړو.او په همدې حال کې په صنعت کې دزیاتو پیسو نه شتون، وسایل اوتو کې تحلیل اووڅیړو. اودهغو په وسیله مونږ کولې شو خپل ورځنیزې اړتیاوې پوره کړو. اودهغو نقش داخیســتونکې اوپلورنکې له نظره، اوداستعمال له نظره دکریډېټ ډولونه داقتصادپه بېلابېلو ســاحو کې څیړو. اودپیســو ارزښت له رسمی اوحقیقې پلوه هم کولی شو مطالعه کړو. دوخت اغیزې دارزښت له نظره مطالعه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د پنځم څپرکی پوښتنې:**

۱. دکریډیټ مفهوم واضیح کړئ؟

۲. دکریډیټ ضریب څه مفهوم څرګندوئ؟

۳. په اقتصاد کې دکریډیټ رول تشریح کړئ؟

۴. کریډیټ دزمان په لحاظ په څو ډوله دي هریو تشریح کړئ ؟

۵. دجاری حساب په لحاظ کریډیټ په څو ډوله دي. یواځی نوم یې واخلئ؟

۶. اکریدتیف کریډیټ اوبورسی کریډیټ سره پرتله کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرچيني او اخځليکونه:**

۱- انترنت Http: /www. farya. comyid ۲۳/۴/۲۰۰۸
۲- سیاست های پولی پوهندوی سید مسعود ۱۳۸۷کابل
۳- مبانی علم اقتصاد تالیف دکتورری تقویی تهرات ۱۳۲۴
۴- پول وکریدت تالیف پوهندوی سید مسعود ۱۳۸۷ کابل
۵- سیاســت بودجه ویا روش ها بودجوی مؤلف یاد گاریی استاد پوهنحئی اقتصاد پوهنتون کابل ۱۳۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام

د  پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت د ښوونیز نصاب د انکشاف ریاست د ټولنې د عیني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلینو او شاګردانو د درسي کتابونو پــه برخه کې یې تخنیکي او مســلکي رشــتې درلودې او لري یې، په لومــړي سر کې یې تصمیم ونیو، چې په ښــوونیزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بیا کتنه وکړي او ورپســې بیا د شاګردانو او محصلینــو د درسي کتابونو د تالیف لپاره مبادرت او کوښــښ وکــړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســابدارۍ څانګې د ښــوونکو په میړانې او همت سره د ادارې او حســابدارۍ درسي کتابونه تالیف شــول تر څو په وړیا ډول د شــاګردانو او محصلینو په واک او اختیار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوستونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شــاګردانو او د تخنیکي او مســلکي زده کړو د چارو له متخصصینو او همدا شــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صمیمانه هیله کیږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښــوونکو او د ادارې او حســابدارۍ څانګې د مسلکي غړو له لوري تالیف او تدوین شوي دي. د مســلکي، تخنیکــي او علمي مطالبو او مفاهیمو د څرنګوالي پــه هکله خصوصاً د هغوی املایي او انشایي اشتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شــان له ګرانو شــاګردانو او محصلینو څخه هیله کوو ترڅــو د دې کتابونو د مطالعې او اســتفادې پر مهال د هیواد اقتصادي ســتونزې، فقر او وروســته پاتې والی په نظر کې ونیسي او د کتابونو په ســاتنه کې کوښــښ او زیار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلینو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنیکي زده کړو معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مدیریت

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**